



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعلان

ګرانو او قدرمندو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډیر سخت منع دي

پښتونستان
پښتو ډاټ نېټ

Presented By : Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوق محفوظ دي

---

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | ګل پاڼه |
| ليکوال | علي خيل درياب |
| کتابت | لطف الله پښتو اکيډيمي |
| دچاپ کال | جنوري سنه ۱۹۹۹ء |
| دچاپ شمير | پنځه سوه |
| ترتيب | عرفان خټک |
| بيعه | ۵۰/- روپۍ |

خوروونکی :-

هميشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) اماندره

دموندلو درک :-

جميل بک سيلرز مين بازار بټخيله

---

سرپاڼه - اين ايس ارټسټ تخت بهائي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تړون

د ګل پاڼړے په نوم
چه زما د خيالي دنيا د
خوشبوګانو بناپيرۍ ده

دريابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


پېش نامه ———— همیش خلیل ———— ۶

کوزه کښې سمندر ———— ډاکټر محمد اعظم اعظم ———— ۱۱

لنډ پانړه ———— ډاکټر اقبال نسیم خټک ———— ۱۶

دغزل دنړۍ دافسانې په کاله کښې ———— میاں فضل الرحمان شاهد ———— ۲۲

| | سرخط | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | خاوړې | ۳۲ |
| ۲ | جرم | ۳۳ |
| ۳ | دکوټ میږې | ۳۴ |
| ۴ | مات منګے | ۳۵ |
| ۵ | پردۍ ستړګې | ۳۶ |
| ۶ | نا پېژندۀ ربانډے بلا بلا راویږې | ۳۷ |
| ۷ | ماده پرستي | ۳۸ |
| ۸ | ناڅاپه وړے جذبې | ۳۹ |
| ۹ | یقین | ۴۰ |
| ۱۰ | نوړے | ۴۱ |
| ۱۱ | ښتېزه | ۴۲ |
| ۱۲ | د زهرو پونه | ۴۳ |
| ۱۳ | پښتانۀ | ۴۴ |
| ۱۴ | برندۀ خاموشي | ۴۵ |
| ۱۵ | لیبرل ماښتلا ده | ۴۶ |
| ۱۶ | شاپېرۍ | ۴۷ |
| ۱۷ | نوې به توملہ | ۴۸ |
| ۱۸ | لوټیا | ۴۹ |
| ۱۹ | جامے | ۵۰ |
| ۲۰ | ذره پانړه | ۵۱ |
| ۲۱ | بدل | ۵۲ |
| ۲۲ | کاڼۍ | ۵۳ |
| ۲۳ | بے عملی | ۵۴ |
| ۲۴ | ډوله او ختانه | ۵۵ |
| ۲۵ | حرموتے | ۵۶ |
| ۲۶ | کړنګ کل | ۵۷ |
| ۲۷ | پرتو غاښ | ۵۸ |
| ۲۸ | پیسے | ۵۹ |
| ۲۹ | اعتماد | ۶۰ |
| ۳۰ | خوګند لیونے | ۶۱ |
| ۳۱ | متاکی غوز | ۶۲ |
| ۳۲ | نوکری | ۶۳ |
| ۳۳ | باور | ۶۴ |
| ۳۴ | غاړکی | ۶۵ |
| ۳۵ | تله | ۶۶ |
| ۳۶ | انډیواله | ۶۷ |
| ۳۷ | د ناپړۀ زړۀ | ۶۸ |
| ۳۸ | وروری خوری | ۶۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | تپوس | ۷۰ |
| ۴۰ | زړه غوبشې | ۷۱ |
| ۴۱ | بکو بابا جي | ۷۲ |
| ۴۲ | حرام | ۷۳ |
| ۴۳ | ګناه | ۷۴ |
| ۴۴ | ؟ | ۷۵ |
| ۴۵ | روړید لے بیاسته | ۷۶ |
| ۴۶ | چیندړه | ۷۷ |
| ۴۷ | ورخته | ۷۸ |
| ۴۸ | شپلونه | ۷۹ |
| ۴۹ | خیوته تولیه | ۸۰ |
| ۵۰ | میراته کوندړه | ۸۱ |
| ۵۱ | بےروزګاری | ۸۲ |
| ۵۲ | جوارګر | ۸۳ |
| ۵۳ | I miss you | ۸۴ |
| ۵۴ | ژرندړه | ۸۵ |
| ۵۵ | شنتالان | ۸۶ |
| ۵۶ | مذهب که مینه پښتو | ۸۷ |
| ۵۷ | قاتل څوک دے؟ | ۸۸ |
| ۵۸ | توپیر | ۸۹ |
| ۵۹ | MENSES | ۹۰ |
| ۶۰ | شین خالی | ۹۱ |
| ۶۱ | قادر | ۹۲ |
| ۶۲ | ډ توبے بورجل | ۹۳ |
| ۶۳ | تعلیم | ۹۴ |
| ۶۴ | ابلیس | ۹۵ |
| ۶۵ | حوالدار فاتح رحمٰن | ۹۶ |
| ۶۶ | اُستاد جي | ۹۷ |
| ۶۷ | تهوپک ملنګ | ۹۸ |
| ۶۸ | تهوخ | ۹۹ |
| ۶۹ | کرامات | ۱۰۰ |
| ۷۰ | نامه | ۱۰۱ |
| ۷۱ | ایمل خان کانسی | ۱۰۲ |
| ۷۲ | مسلمان | ۱۰۳ |
| ۷۳ | Masterkey | ۱۰۴ |
| ۷۴ | کفاره | ۱۰۵ |
| ۷۵ | پټان اکا | ۱۰۶ |
| ۷۶ | انسان | ۱۰۷ |
| ۷۷ | کورنۍ خصلتونه | ۱۰۸ |
| ۷۸ | سکندر | ۱۰۹ |
| ۷۹ | میلمه | ۱۱۰ |
| ۸۰ | ممتاز | ۱۱۱ |
| ۸۱ | دُنیالیونۍ | ۱۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیش نامه

دقلم په ژبه د یو زلمي لیکوال دمشاهداتو او واقعاتو دا نتیجه خیزه ادبي مجموعه هغه لفظي تصویرونه دي چه که یو مصوّر ئې د بُرش او رنګونو په تعاون د روایتي تصویرونو حقیقت ته ورسوي نو یو داسې البم به ترې جوړ شي چه هر نقش به ئې دخپل پس منظر په خاموشه ژبه د معاشرې د دردناکو، حسرتناکو او عبرتناکو المیو یو نه ختمیدونکې داستان را او سپړي.

دعلي خېل دریاب دنګارخانې دغو المناکو لفظي تصویرونو ته چه کورم نو هر یو دخپلې خپلې افسانې هغه عنوان دې چه تفسیر او تشریح ئې د پخوانو ځنو حکیمانو او فلاسفرانو هغه اقوال دي کوم چه هغوئ هم پخپله خپله زمانه د خپلې خپلې معاشرې په تنه بوده کښې ددغه قسمه واقعاتو له محسوسولو نه پس رقم کړي وو - ځکه نو د "پښتانه" په نوم دبناغلي مصنف لفظي تصویر که یو مصوّر په رنګونو منجمد کړي نو د امام غزالی او هربرټ سپنسر داقوالو دغه کیپشنونه به ورسره مناسب ښکاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښځو کښې يو قسمه کمزوري ده چه علاج ئې تحمل دے"

(امام غـــزالیؒ)

" د ښځې زړهٔ د هغې په ذهن بادشاهي کوي."

(هربرټ سپنسر)

## ژړنده :-

د دغه عنوان لفظي تصوير ته که چا فنکار د خپل فن د رنګونو

ښائست ورکړو ـ نو کيدے شي چه د "بېکوڼ" د قول دا کيپشن

ورسره هم ښه ومني ـ

" ترکومه چه يو انسان د بل انسان په سټ سور

دی ـ دنيا کښې به امن محض يو خوب وي."

## ړنده خاموشي :-

د موجوده دور د سياسي مجبورو او بے انصافو هغه المیه ده

چه که په صوري رنګ کښې پيش کړے شي نو د هربرټ سپنسر د دغه

قول ژِ ورلاندے اوبيکی ـ

" د نهٔ حقدارو خلقو د پاره د حقدارو خلقو حق ومنه

نهٔ صرف د انصاف په مرئ چاړه راښکل ده بلکه ديده او

دانسته د اشده نسلونو په لار کښې اغزي کرل دی ـ او هم

دغو نسلونو د پاره د دے نه لوے افت او غضب نهٔ شي

کيدے چه ورته کښې ورته نالائقه خلق پريږدي."

## کانړي :-

دا که چا سنګتراش وتراشله ، نو د اسکر وائلډ دا قول د ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراشل هم نهٔ هيږدي .

" د زمانو رابسے دولتمند و د غریبانانو د بغاوت د مخنیوئ
دپاره دا مؤثره طریقه راویستے دلا - چه د غریبانانو د
ګټے وټے لږه شان برخه دوي ته د خیرات په شکل
واپس کړی . "

## جرم :-

دغه عنوان مفهوم کهٔ د مصوّر د آرټ په برکت تکمیل شي .
نو د ډرائنګ روم په دیوال د زښت کولو و ړاندے د "بیکن" د قول
داالفاظ ډِ هم وړلاندے ویکلے شي .

" د دولت پریوانی د ځوانئ تباهي دلا "

## مات منګے :-

د کشمالے مات منګی ، نونګ ته خهٔ ادوے ؟ شاید داچه

" سر ځارشه له عزته "

خو د امام غزالی" دا قول ډِ هم ورسره شي چه .

" طبیعي شهوت په انسان او حیوان کښے یوشان
وی - خو وضعی شهوت انسان کښے صرف په تهٔ
تربیت او بد صحبت زرغونیږی "

## بے عملی :-

په قول د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنهٔ

"عمل بے علمه عیب ژن او بیمار دے او علم
بغیر د عمل نه شنډ او بیکار دلا . "

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تله :-

د علي خیل دریاب دا دردناک تصویر شاید چه د هغه دنگارخانې شهکار ثابت شي . او د دغه حسرتناکه تصویر لاندې د ویکټر هیګو د غه نادر قول شاید چه د تماشګیرو په زړونو او ذهنونو کښې د یو انقلاب سوب شي .

"هر کله چه انسان د پیدائش په وخت او بیا د مرګ
نه پس هم مساوي دے ، نو آخر ولے دے د ژوند
میا نځنې موده هم مساوي نه تیره نهٔ کړي ؟"

## تپوس :-

جمیل نه د ممانړے دا تپوس که یو خوا د ماشوے سېرغ د دردونو د علاج آرزو دهٔ ، نو بل خوا د جمیل مفلسئ او غربت د هغے په آرزو د بے وسئ یخے . او به توئے کړے . د ښاغلی دریاب د دغه تخیّل جامد تصویر سره د برناډشا دا الفاظ په زړی سیاهئ دیکلو دي .

"دنیا کښې د تولو نه لویه او بدترینه
ګناه غریبي دهٔ . نور ټول ګناهونه
د غربت په وړاندے کوچنے نیکئ دي."

ګرانو لوستونکو !

ما د قلم په ژبه د ښاغلی علي خیل دریاب د څنو تحریري تصویرونو خاموشه آوازونه ستاسو تر غوږو کړه . باقي بیا تے

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویرونه او د حال په ژبه د معلو داستانونه تاسې خپله وګورئ او واورئ .

خو د فرینکلن دا قول هم یاد لرئ چه

" ډیر داسې دردناکه واقعات شته چه د افسانې جوړیدلو نه وړاندې محو شي ."

همیش خلیل

۲۳ ستمبر ۱۹۹۷ء

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوزه کښې سمندر

په اول ځل دعلي خېل دریاب دنوم په اورېدو سره
زما په تصور کښې یو پراسراره کردار او برېښېده ۔ خو چه
را مخامخ شو نو دپېښور پوهنتون دپښتو شعبې یو عام ساده
ټټه ناک او خاموشه زلمے وو ۔

روسته دهغه دخبرو اترو او لیکونو نه دا حقیقت
را بر څېره شو چه دریاب دېر بښېرازه ذهن او ځلانده
تخلیقي صلاحیتونو څښتن دے ۔ دغه په زور چه هغه
په نثر او نظم دواړو کښې دخپل عمر نه ډېر زیات ښه
لیکونه کوي او په دے کښې هیڅ شک نشته چه هغه به
ډېر کم عمری کښې خپل ځان او خپل صلاحیتونه خپلے ژبے
او ادب ته سپارلي دي ۔ او هم ددغه لیونۍ مینے او لیواله
جذبے په داړ دهغه په لیک کښې دیو خاص قسمه تازګی
سادګي او خود اعتمادي په یو ځائے لیدے او مونډے شي ۔

څه موده دړاندے بناغلي دریاب ما ته خپله یو نثري
مجموعه راکړه ۔ په دے خیال چه زهٔ هغه دکورم او په هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې څه وخت نیکم . او دا دواړه خبرې ماته په دې ګرانې
ښکاري چه د علي خیل دریاب نه وړاندې هم دغه ډ کهول ډېرو
نورو زلمو کتابونه ماته هم په دغه غرض پراته دي . خو د
دریاب نه خلاء ممې ګران دے او بیا چه په چا ئے لاروي
نو خبره نوره هم ګرانه شي . او حقه خبره دا ده چه علي خیل
دریاب په ما ډېر ګران دے . او هم له دے کبله چاروناچار
م د دغه "ګل پانړې" کتلو او په مخې څه لیکلو ته غاړه
ورکړه .

د بناغلي دریاب ددے نثر تړوتق په کتلو زړه په ډیو
عجیبه دوجاله کینې راګیر کړم . دا دواړه کوچني کوچني لیکونه
که یو خوا اثرناک او عبرتناک دي نو بل خوا حیرتناک هم
دي او د حیرانتیا خبره دا ده چه دا په پښتو ادب کینې د
یو نوي صنف د قیمتي شکل دے چه نامه یه ورله مونږ
بخیله خوښوو .

بناغلي دریاب د خپل چاپیرچل د روان ژوند نه واړه
واړه واقعات ، امروزه پیښې ، پارپیدلي تاثرات ، هموار او
ناهموار کردارونه او د تجسس نه ډکې مشاهدې راټولې کړي
دي او هغو له ئے د افسانچو شکلونه ورکړي دي - تکنیک ئے
د لنډو افسانو ښکاري - . وړو بیا هم که افسانه ورته
نه شو وئیلې نو د افسانې مینه پرې ماتیږي . ځکه چه دے
کتاب کینې موجود د هرې واقعې او هر تاثر یا هرې مشاهدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام خه په داسې ډول کیږي چه د لوستونکي ذهن [illegible] ته
ورو مرو خپل اثر اخلي او بنده په دے وینا مجبوره شي چه
دریاب په کوزه کښې سمندر بند کړے دے .

د علي خیل دریاب د قیصې د اشکل که زمونږ په
ادب کښې خپل ساری لهتوی . نو ذهن د عبدالقادرخان خټک
په گلدسته بانندے تیکا وے کوی . "گلدسته" د فارسۍ
ژبے د نوموړی لیکوال شیخ سعدی د گلستان پښتو ترجمه ده.
کومه چې زمونږ د نثري ادب په وړومبو کتابونو کښې یوه
قیمتي د الۍ یادیږي . اوکله خنګه چه د گلستان حکایتونه
د شیخ سعدی د مشاهدے ، علم او فکر یوه بے بها پنګه ده.
هم په دغه ډول بناغلی دریاب د خپل چاپیریال اوخواوشا
نه داسے واقعات ، کردارونه او مشاهدے راخستے دی . او
په خوند خوند او رنګ رنګ سره بیان کړی دی چه لوستونکے
ورته په داد ورکولو مجبور شي . زما د دے وینا دا مطلب
اخستل نه دی په کار چه ګني زه خپل شاگرد د سعد
غونډے د نړیز ادبي شخصیت په مقابله کښې راوستل غوارم
زما اشاره د دریاب د دے افسانچو اسلوب ته ده چه هغه
د بناغلی سعدی شیرازی د حکایتونو د طرز سره ډیر
سمون خوری .

"ګل پاڼړے" د افسانچو انداز طنزیه دے او هره پیښه
هره واقعه او هر کردار پکښې په شعوری ډول د لیکونکي له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خه نه خه شکل کښې د طنز توکې رابرخيره کوي . او ټيکونکې په دې کوښښ کښې ناست ښکاري چه په هر ځائے په هر خه او په هرچا خه نه خه ټک اوکړي . او په دا سے کولو کښې هغه ګرم هم نهٔ دے . ځکه چه دريآب هرځهٔ ډرونډ د درياب نه راخستې دي او د ډرونډ حقيقتونه ډير تراخه وي . د دے ترخو کمتونو او ستړو ګنډارونو د ے مجموعے له که زهٔ له خپله انده د "ټيکونو" نامه خوښه کړم . نو خوښه د دريآب ده او فيصله ستاسو .

په دے "ټيکونو" کښې ځينې داسے هم مخې له راشي چه هغې ته موږ لنډه افسانه ( SHORT STORY ) هم وئيلے شو لکه د مثال په توګه "جوارګي"

"زما نوم زهرا دے . د شکلنے بانډے د طوطي ګل لور يم . پخوا پښت کاله وراندے چه پلار د جوارګې په داؤ باسيلم نو ګمتلي جوارګي ترډے را اورسوم مامور چه د چکلے په برنډه تيارہ کښې د خپلے سکه خور پيژندګلو اوکړه نو هم د هغے په غيږ کښې په لو ځے خوب اوده شو."

خو د کوټلي او راغونډي پلاټ دا مثالونه ډيره دے "ټيکونو" کښې کم دي . زيات تر په کښې تاثرات دي . خو د هغه تاثرات هم د حکمت او مقصديت نه خالي نهٔ دي . لکه "خاورے"

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ځانګې ... یا ... ځانګې د اسپرګې وګې وهي
سړیه ! دانه ګوره چه ناخاوره خوري .
آغو - پریږده چه خوري کښه . زمونږ په کاله
کښې بې د خاورو نه څه دي ."

د علي خیل دریاب په دې افسانچو کښې په ځنو ځنو د
اوپړه جذباتیت او مبالغې رنګ هم خوړ دې . خو اکثریت پکښې
د مغه قصه ګوټو دې چه مغوکښې زمونږ د چاپیرچل ژوندي
حقیقتونه ساه اخلي او د بناغلي علي خیل دریاب د مقصدي
سوچ او رسا فکر ګواهي ورکوي .

د ژلمي فکر او ځوانو ولولو په دې انقلابي قدم زه بناغلي
دریاب ته د زړه له کومې مبارکي ورکوم - په دې چه په نړیوال
ادب کښې د دې طرز د لیکوالو اهمیت او افادیت ډیر سیوا بنکاري
ځکه چه د معاش په دې لوټې درز غوبل کښې د چا سره د لویو
لویو قصو او اوږدو اوږدو داستانونو د لوستو او اوریدو
وخت پاتې نه دې او که د وړوکي لیک کښې ورته
د اسې د خیال او فکر نه ماموره ځولجې په لاس ورشي
نو دا هم غنیمت دې .

ډاکټر محمد اعظم اعظم
پښتو د پوهنتون
۱۱ فروري ۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل پاڼه

د قیمتي د اوریدلو او د قیمتي د اورولو فطري خواهش د انسان
په خمیر کښې ځائي اغېزلے شوے دے. د قیمتي د اوریدونکي ترهغه
پورے تسکین نهٔ کیږي ترڅو چه ئې پوره قیمتي بنهٔ په توجه
سره اوریدلے نهٔ وي او د قیمتي راوي ترهغه پورے د قیمتي مزے
دلاس نه نهٔ پریږدي ترڅو چه ئې قیمتي سرته رسولے نهٔ وي او
داڅ ونیلي نهٔ وي چه
"زما مسئله نیره بیره د دین کټورے ډکي
راوي د اوریدونکي نه دڅپل زړهٔ رابنکوني انداز بیان د
حافظے دکمال او دڅ بے دخوب والي داد وصولول څپل حق ګڼړي
او د اوریدونکو له خوا دغه داد د راوي انعام هم وي او صله هم.
نو دادمغه وخت خبرے دي چه د خلقو څخه د فرصت کیے نهٔ
وو. په معنوي کښے مینه وه، اخلاص وو او زړهٔ خوږدي وه،
حجرے، جماتونه او ګودروسته اباد وو. خلق به بلا ناغه دمابنام

---

ګلونو پاڼړے بویه چه قمیص شي د ملوکے
د وربنبهو د قمیص ئے نازک بدن ملول دے (خوشحال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېوړۍ نه پس حجرے ته تلل او بيا خاص طور سره په ژمي کښې خو به ئے ترنيمے شپے قصه گو ماما ته غوږ نيولے وو، د غه شان به چه قافلے په اوږدو سفرونو تللے، نو سخت او اوږدۀ سفرونه به قصه گويانو د قصو په جادو اسانول او رالنډول - په دغه قيصو کښې به زياتے قيصے د مافوق الفطرت عناصرو نه ډکے وے او واقعات به ئے د انساني پوهے نه بهر وو.

د ژوند کاروان چه څومره مخ په وړاندے تلو وخت رالنډيدو نوے نوے مسئلے راښکاره کېدے او نوي ضروريات راوړاندے کيدل او خبره دے ته راورسيده چه د وخت دکمي احساس او د ژوند بے شمېره ضروریاتو د انسان ذهني او بدني سکون اولوټلو - د نوي دور د انسان څخه دومره فرصت چرته دے چه په ورځو اوونو هفتو د ناست وي او اوږدۀ اوږدۀ داستانونه د اوري.

په مغرب کښې په دغه قسم قيصو کښې مرچ مصاله گډه کړے شوه، رنگ روغن پرے او خيږولے شوه او د ناول نوم ورکړے شو او بيا د ناول نه لنډه قيصئ را اوزيږيده - خو د پښتو معامله داسے نۀ ده . په پښتو کښې لنډه قيصئ د ناول نه مخکښے راښکاره شوے ده او هم د خپلے خاورے پيداوار دے .

پښتو کښې د افسانے عمر ډیر کم دے او که مونږ ښاغلے راحت زاخيلي د پښتو افسانے امام اومنو نو د افسانے عمر د اتيا کاله نه مخکښے نۀ څي ځکه چه "کنډه جينئ" تراوسه د پښتو وړومبئ افسانه منلے شي چه راحت زاخيلي صاحب په کال سنه ۱۹۱۷ء کښې ليکلے وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کال ۱۹۱۶ سنه نه ترکال ۱۹۳۶ سنه پورې د افسانې رفتار نه یوازې سُست بلکه د نشت برابر دے - البته د ازادۍ نه پس پښتو افسانه د توجه مرکز گرزېدلے دے او ښهٔ ښهٔ افسانه نګاران او افسانه نویسه میدان ته راغلي دي او په هره موضوع ئې افسانې لیکلي دي - اکثرو افسانه لیکونکیو په افسانه کښې د ژوند مسئلې بیان کړې دي خو د روایاتو نه بغیر ئې قدم نهٔ دے ایښے خو بعضې افسانه نګارانو د جنس او ښځې مسئلې ته زیات اهمیت ورکړے دے او هم دا د هغوی د فن مقصد هم دے او معیار هم.

په پښتو کښې چه کوم افسانه نګار مختصره افسانه په مختصرترین شکل کښې په کامیابۍ سره اولیکله هغه ارباب رشید احمد خان دے چه "ډانګاز مے" په نوم ئې خپله مجموعه چاپ کړه اګرکه په دغه افسانو کښې د تحیّر احساس ( suspense ) ډیر زیات دے خو د تحیّر د احساس نه بغیر افسانه د معیار نه پاتې کیږي - خو د ارباب صاحب تقلید چا هم اونهٔ کړو - او شاید دغه منفرد انداز صرف د ارباب صاحب برخه اوګرځېده

ښهٔ م یاد شي چه ما د فرورۍ ۱۹۶۵ سنه یا اغلباً ۱۹۶۶ سنه د زیارت په یو مازیګر خپل یو محترم استاد چه د سکول هیډ ماسټر وو او دوه خوانده ملګري د میلمستیا په خاطر ځان سره روان کړل . د سکول نه په سوېل په شنو پټو کښې پیاده تګ ډیره مزه کوله خو اسمان سترګے ښې نهٔ غړولے . سارهٔ لحظه په لحظه زیاتیدو او دې کله چه موږ یو ښار خوړ ته راورسیدو نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه افسانچو په ژبه کښې چه کوم خوبصورتي [illegible] شي بیانولے ئے نهٔ شي . د کل پانړے افسانچے د ایمایئت، علامتي انداز او د پښتنې چاپېرچل ښکلے نمونے دي . د شمیر په څو ټکو کښے دومره غټ واقعات او پرانستي رازونه بیانول څه اسان کار نهٔ دے . داسے ښکاري چه پښتو افسانه د کمپیوټر په دور کښے ځان د داخلولو د پاره ومېږئے کوشش دے او راتلونکي نسلونه به بناغلے علي خیل دریاب د دغه اختراع امام ګڼړي کوم چه د دهٔ حق دے .

د بناغلي علي خیل دریاب افسانچے د نثري افسانے مختصرترین شکل دے د ابیخي یوه نوے لاره ده . رو پیۍ که ورته ده، په تول پوره ده . په دے کښے هم هیڅ شک نشته چه د هر نوي کار مرسته هم کیږي او مخالفت هم . خو د کار خلق د دے خبرو پروا نهٔ کوي هغه د غالب خبره چه

نه ستائش کی تمنا ہے نه صلے کی پروا

خوشحال بابا څه د مطلب وینا کړے ده . سه

د جاهل په بخره تش سر ښورول دي

آفرین رم په خبرو دانشمند کړ

زهٔ د علي خیل دریاب د نوے اختراع او نوي کوشش تے د قدر په نظر ګورم او دا رم یقین دے چه لوستونکي به دغه انداز خوښ کړي په مینه به ئے اولولي او خوند به ترے واخلي .

زهٔ نورو زلمو او پېغلو ته هم د ابلنه ورکوم چه هغوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمان نه سپېنې پاڅونډ ته راپرېوتل شروع شول. موټر په داسې صورت حال کښې ګير وو چه که په شا راستنېدلې نو هيڅ فائده ئې نه وه. او په وړاندې تګ هم ممکن نه وو. او زما کورته لا د يو ميل نه قدرې زياته فاصله پاتې وه. موټر چه خپل پټوانۍ چوک ته اورسېدو نو لاس پښې مو شل شوې وې او د ماچس لګولو همت مونږ نه شو کولې.

ما دغه ريښتونې واقعې ته د يوې افسانې شکل ورکړې چه دشپې نخته جملو نه زياته نه وه. او عنوان م ورله ـــ "دعوت او آفت" کېښود. دغه افسانه بيا د مارچ په مياشت کښې په ورځپاڼه "بانګ حرم" کښې چاپ شوه. د دغه واقعې پس منظر صرف ماته يا زما ملګرو ته معلوم وو. خداے شته چه هغه ورځو کښې ذۀ په دے نۀ پوهېدم چه ګنې دا يوه مختصرترينه افسانه ده. خو بناغلي ايوب صابر زما ډېره ډاډګيرنه اوکړه خو دغه افسانه اوس ما څخه نشته.

د پښتو افسانې يو انداز خو د ارباب رشيد احمدخان دے او يو بېخي جدا انداز زما د خوښۍ او زړۀ ته رانـــزدے شاګرد علي خيل درياب دے ځکه چه په پښتو کښې دغه قسم ته نمونه دده نه وړاندې زما د نظر نه نۀ ده تېره شوې. ښاغلي علي خيل درياب د افسانو موضوعات هم ښکلې دي او نوم ئې هم جاذب توجه دے. په دغه افسانو کښې د يوې مکملې، معيارۍ او په تول پوره افسانې ټول خصوصيات او لوازمات موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړاندې شي خپله مورنۍ ژبه څه په ... بوتې د پښتو روایاتو
په بنیاد د ادب ښکلې ښکلې عمارتونه اودروي ځکه چه په کوم ادب کښې چه زمونږ د روایات موجود وي هغه ادب به کله هم پردے نه شي همیشه به تروتازه او ھر دلعزیز وي او په کوم ادب کښې چه نا اشنا او بے جوړه روایات په زبردستۍ ځائے کړی شوی دی - هغه ادب کله هم نهٔ خپلیږي او نه زمونږ د کلچر مستقله حصّه جوړیدے شي -

علی خیل دریاب یو محنتي ، خوش فکره ، خوش شکله او د اوچتو عزائمو زلمے دے ځکه په ما ګران دے - ما هیشه د خپلو محنتي شاګردانو حوصله افزائي او لاربنودنه کړے ده او د هغوئ په کامیابۍ رم د خوشحالۍ اظهار کړے دے — علی خیل دریاب هم زما په هغه شاګردانو کښې شامل دے په کوم چه زهٔ په ځایځ فخر کولے شم -

دا زما یقین دے چه علی خیل دریاب او د زلمي کول بعضے محنتي او خود اعتماده زلمي به د راتلونکی وخت د ادب د آسمان ځلنده ستوري وي او ځلائے به کړي چه زما دغه دعویٰ صحیح ثابته شي - الله تعالیٰ د علی خیل دریاب په قلم کښې خیر وبرکت واچوي - آمین

محمد الله کرے حسن رقم اور زیادہ

ډاکټر ایم اقبال نسیم خټک

پښتو څانګه پېښور یونیورسټی

۲۷ ربیع الاول ۱۴۱۸ھ / یکم اګست ۱۹۹۷ء

ورځ - د جمعے مبارکه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غزل زلمے

# افسانے په کهاله کښې

---

ښاغلے علي خیل دریاب یو ښکلې شاعر، پوهه ادیب، زلمے پوهان کلک ملګرے، میلمه پال پښتون، فرمان برداره کش خوږ ژبے انسان او ښه خوش نویس دے.

کله چې مونږ په امان دره کښې ادبي هلے ځلے پیل کړے نو زما غوږونو ته د ښاغلی دریاب نامه دیو شاعر په حیث را اورسیدو . هغه وخت دوئ لا د سکول طالب علم وُو. په رومبی ملاقات کښې دوئ لکه دیو حیادار زلمی ماته خپل شعرونه وړاندے نهٔ کړل . او بیا چه څهٔ ورځے زوستهٔ هم د دوئ په تحریک مونږ خپل کلی کښې یوه اولسی مشاعره جوړه کړه . او دوئ پکښې خپل کلام وړاندے کړو . نو د دے وړوکی طالبعلم په شا ماته یو ښکلی شاعر او پوهه ادیب په نظر راغے.

د ښاغلی دریاب د پښتو ژبے او ادب سره د بے کچه مینے په سبب مونږ هم د دوئ په خوښه او کوشش هیشه پښتو ادبی ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رجسترډ اماندره جوړه کړه او تر دے مقامه مو راورسوله .

مونږ دوا ړه کهٔ د پښتونخوا هرے سیمے ته مشاعرے له تلی یو . نو بناغلی دریاب د خلقو پام خپل غزل ته راګرځونو کښے خاځا بریالے شوے دے . ډیر ځله خو به روانه مشاعره کښے خلقو د دوئ د کلام نمونے هم غوښتی دی .

یوه مشاعره کښے چه د پښتو نامتو خبرنګار پروین شاهین د دریاب خوندور غزل واوریدو نو اعلان ئے اوکړو

" چه کهٔ د زلمے د خپلو غزلو کتاب چهاپ
کول غواړی نو نیم خرڅ ورسره زهٔ منم "

او بیا په ډیره کړه موده کښے بناغلی دریاب د غزل د اسے کوټلے تجربے اوکړے او لاکوی چه ما ورته د " پښتو د غزل زلمے " او وے . سه

چه دریاب ئے په سنګر د غزل پروت دے
ګڼو خو به باندے خبرے ملاکښ دے

بناغلی دریاب د شروع راسے د شاعرئ سره سره نثری اصنافو ته هم پاملرنه کړے ده . د طالب علمئ په زمانه کښے ئے په یوه ډرامه د یو پروډیوسر صاحب نه شاباس هم اخستی وو او هغه بناغلی تر دے هغه ډرامه ریډیو پاکستان پېښور مرکز ته هم وړی وه . وائی د پښتو هغه خبره " چه دکوم بچی د پلاره ئے پیسه نهٔ وی او دموړ ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاسهٔ نهٔ دی هغه بچے سبق نه شی
ویشلے ."

نن د ولس۱۲ کاله وړاندے چه ملګرے نوشیروان عادل
د ورځپانږے جهاد پېښور د پښتو برخے نګران وو . نو ډیرو
ځنو لیکوالو سره څنګ په څنګ بناغلی دریاب هم ډیرے
قیمتی ملغرے پښتو ادب ته بخښلی دی . او د خپل اصل
نوم سره سره ئے په قلمی نوم هم ډیر مضمونو نه چهاپ
شوی دی .

هم په دے موده کښے بناغلی دریاب کافی افسانچے اولیکلے
چه څهٔ یکښے په ورځپانړه "جهاد" پېښور ورځپانړه "وحدت"
او اوونګ ورځپانړ "هیواد" پېښور کښے چهاپ هم شوے .
د دومره بنهٔ افسانچو په لیکلو نهٔ یواځے ما په شا
اوټپوړ . بلکه نورو ملګرو ئے هم بنهٔ ډاډګیرنه اوکړه . دوستئ
ئے د افسانچو سره ډیرے افسانے اولیکلے . چه څهٔ خو
په اخبارونو رسالو کښے چهاپ شوے او څهٔ لا تر اوسه ناچهاپه
پرتے دی . ډیرو ملګرو صلاح ورکړه چه دا افسانے کتابی
شکل کښے چهاپ کړه .

او بیا څه موده وړاندے چه د غزل زلمی یو ځل بیا د
افسانچے په درشل ښه کېښودهٔ . نو افسانچے د دوئی ځلنده
فکر او بښېرازه ذهن ته تود هر کلے اووے . دا ځل
بناغلی دریاب د افسانچے په سرخیه کولو ډیر کړاؤ اوکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ځان ته د افسانچې په کهاله په هسکه غږې وردننه کړو .

راځئ چه اوګورو چه د غزل زلمي دخپل فکر وفن څومره قیمتي ملغلرے افسانچې ته پیرزو کړي دي - او د افسانے په کهاله کښے ئے ځان له کوم مقام پیدا کړے دے .

د بناغلي افسانچه نګار مشاهده ډېره ژوره ده . دوئ هم په ډے معاشره کښے سترګے غړولی او هم دلته ژوند کوي ځکه خو د ژوند په هر اړخ د سا نظر لري - او هر رنګ ئے پېژني . ددوئ اکثرے افسانچې دد ے معاشرے عام واقعات دي . چه دوئ پکښے دخپل فن په ذریعه زړوړاښکون او نوے والے پیدا کړے دے - دوئ دخپل چاپیرچل دے واقعاتو او حادثاتو ته هیڅکله هم په جذباتي انداز نه دي کتلي - بلکه د واقعے ، حادثے او کردار ښه ژوره جائزه ئے اخستې ده . په خپله جذباتي ، عملي ، اخلاقي او ذهني سرمایه کښے ئے ښه اغېړلي دي - او بیا ئے ورته په افسانوي رنګ کښے د رنګ کړي الفاظو جامے وراغوستي دي . ځکه خو دا افسانچې د مجلس کړمولو سره سره زړونه هم ښه کړموي .

په هره تولنه کښے داسے واقعات او خبرے وي چه د معاشرے غړي ئے یو بل ته په پس پسي کښے وائي . په عام مجلس کښے د هرچا د وړاندے د دغه واقعاتو ذکر هرڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ شي کولے - خو د بناغلي درياب بے باکه قلم ورله په ډېر جرات انداز کښے غوره الفاظ او مناسب علامتونه خوښ کړي دي او په ډېره فنکارئ ئے د دغه واقعاتو او حادثاتو نه پردے پورته کړي دي او نهٔ يواځے عام لوستونکي ته ئے په ډاګه کړي دي بلکه په سوچ او فکر ئے هم مجبوروي. دوئ کهٔ په معاشره تکونه کوي - د پښتنو توهم پرستي غندي - د دنيا بے ثباتي په ګوته کوي - د پښتنو د غريبي يادوي او کهٔ د موجوده دور د مسلمان بے عملي په نخښه کوي - نو د خپل چاپېرچل عکاسي په ډېره ښه طريقه کوي -کهٔ د طنز غشي وروي نو د مزاح خواږه هم خوروي د خپل چاپېرچل ډير رشتوني واقعات او حادثات ئے د افسانچے په فن کښے رانغاړلي دي او د خپل کور کلي اصلي کردارونو له ئے هم په خپلو افسانچو کښے ځائے ورکړے دے لکه اخون ناصر خان شيخ استاذ، ممتاز، ټوپک منګ، عبدولي، رحماني ګل او داسے نور بناغلے افسانچه نګار يو اعلي تعليمافته زلمے دے. د ډقاقي تاريخ سره سره په موجوده نړيوالو حالاتو هم ښهٔ نظر لري. ځکه خو ئے ځينے نړيوالو واقعاتو، حادثاتو او ډقاقي الميو ته د افسانچو رنګ ورکړے دے که "ورخته" او مادة پرستي ئے تاريخي ښه لري نو "شپلونه"، "نيرل مانډېلا" او "ايمل کانسي" ئے د بين المللي واقعاتو او حادثاتو ښکاره شاليد لري - لوټيا د ملکي سياسي ګلتو د په حواله ښهٔ کوشش دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله د بناغلي علي خيل درياب د افسانو په فني ارخ نظر
اچوو . نو د افسانې دپاره چه کوم توکي ضروري پکار وي هغه
دوئ خپلو افسانو کښې په خپل خپل تابين ځائے کړي دي.
د اکثرو افسانو پلاټونه ئے د حقيقت او جدّت د دواړو په
کالو پوره دي . او په ډير اختصار سره ئے ټولو عناصرو
له په زړه پورے ځائے ورکړے دے . کشمکش (SWSPENGE)
او په تيره تيره (CLIMIX) د افسانے روح وي دا توکي
بناغلي په خپلو افسانو کښې د ښو جملو په مدد سره اصلي
مقام ته رسولي دي .

کردار نګاري هم د افسانے دپاره لازمي ګڼل کيږي . دد
افسانو کردارونه د خپل چار پيرچل سره سم او فطري دي.
دوئ کله کله په يوه جمله کښې د کردار پيژندګلو کوي . او
د ښو سره سره ئے خامئ او کمزورئ هم په ګوته کوي .
د کردارونو ژبه ئے هم خپله ده او نوم ئے هم د هغه کردار عکاسي
کوي . څه کردارونه خو ئے اصلي دي او د خپل کلي کوځو نه
راخستي کردارونه دي . ځکه خو د پلاټ سره منطقي
تړون لري .

د بناغلي درياب د افسانو ژبه خوږه هم ده او سوچه
هم . د کردار او ماحول سره سم الفاظ ئے راوړي دي . ډيرو
علاقائ توروله ئے ځائے ورکړے دے او ورسره ډير الفاظ
ئے داسے هم ليکلي دي چه څنګه ئے عوام وائي . هم هغه شان ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکلی دی . او دغه رنګ ئے یوه جمله کښے ډیر مطلب رانغاړلے دے کله کله ئے دخپل مقصد څرګندولو دپاره داشارو کنایو او علامتونو نه کار اخستے دے .

دیو پښتون پوهان وینا دا چه

" افسانه نګار دخپل فن په زور څه خبرے څرګندوی . او څۀ لوستونکو ته پرینږدی . "

بناغلی دریاب تقریباً ټولو افسانو کښے هم داسے کړی دی . لوستونکی ته تیاره نوړی نۀ ورکوی بلکه هغه په دغه واقعاتو دپوهه کیدلو دپاره په سوچ او فکر مجبوروی او هغه بیا دخپل ذهن او فکر مطابق دغه قیصه وړاندے بیائی . او دهغے په حقله خپله رائے قائموی . د څینو افسانو مقصد ته درسیدو دپاره ځو ډیر سوچ پکار دے

محترم همیش خلیل هم د بناغلی دریاب په دے کتاب په ځانګړی ډول نیکلی کړی دی او دخپل علم وفن په ذریعه ئے ددے افسانو ډیره ښه تصویر کشی کړے ده . ولے بیا هم دیو څو نیمے افسانو مقصد ته نه رسیدلے .

دافسانے دپوهانو په خیال دافسانے دپاره لنډوالے ضروری دے . ولے خاص حد ئے مقرر ول ګران دی . ځکه چه کۀ بے مطلبه جملے او خبرے د افسانو په اوږدو باندے جوړیږی . نو تاثیر وحدت ته هم زیان رسوی . په لنډوالی کښے ځو د بناغلی دریاب افسانے خپل مثال په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي . د شمیر په ځو جملو کښې ئې ډیر څه بیان کړي دي.
یعنې دا افسانچې په معنوي لحاظ د جامعیت ښکلې شاهکارونه
دي . هم دغه وجه ده چه د دے افسانچو کښې تاثیر وحدت
قائم ساتلے شوے دے .

ښاغلي افسانچه نګار خپلو دے افسانچو له دا سے سرخطو نه
خوښ کړي دي چه د مرکزي خیال په پوره توګه عکاسي
کوي - اکثر سرخطونه ئې قیصے ته خلا بخښي او لوستونکي
نظر ځان ته راکاږي او ذهن ئې قبلوي .

د دے افسانچو آغاز زړه رابښکونکے دے او په ډیره
اسانه لوستونکے ځان سره روانوي او هم دغه رنګ ئې
د افسانچے انجام دے . چه مقصد ئې اکثر په یوه جمله
کښې رانغاړلے دے . منظرنګاري هم د دے افسانچو خاصه
ده . کله کله خو په یوه جمله کښې پوره پوره منظر
بیانوي او کامیابه منظرکشي کوي .

د دے افسانچو کښې چه ښاغلي دریاب کوم انداز خپل
کړے دے دا د دوئ ځانګړے اسلوب دے . دوئ د میچا
نه متاثر نه ښکاري . ښکاري چه نور زلمي پیغلے دا انداز
خپل کړي .

د دے افسانچو کښې ښاغلي افسانه نګار د پښتنو د کلي کوڅو
واقعات حادثات، توهمات رسمونه رواجونه، دودونه او
قدرونه په اصلي شکل کښې وړاندے کړي دي . او په ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جُرأت سړئ د پښتني معاشرې ځانګړې کمزورۍ او بدۍ هم په ګوته کړي دي.

" د افسانچې د پښتني کلتور او فوکلوري عناصرو بشپړه ننداره توانو نه دي".

د افسانې د انواعو په حقله چه پوهانو څو مره قسمونه بیان کړي دي هغه تقریباً ټول په دې افسانچو کښې په نظر راځي. که کرداري افسانچې لري. نو واقعاتي او ماحولي افسانچو له ئې هم ځائې ورکړې دے که دے کتاب کښې علامتي افسانچې شته. نو په نفسیاتي کشالو ییکلي افسانچې ئې هم شاملې کړي دي. د اکتاب تاریخي افسانچې هم په خپله لمن کښې لري.

د افسانې یو خارجي پوهان هاتهرون وائي.

"افسانه نګار د افسانې په ذریعه د خپلو لوستونکو په ذهن کښې یو اثر پریښودل غواړي".

زما په خیال بناغلي دریاب دیو کامیابه افسانه نګار په حیث دغه اثر نهٔ یواځې د خپلو لوستونکو ذهنونو ته رسوي بلکه په سوچ او فکر ئې هم مجبوروي".

زلمي دریاب د پښتو افسانې په کهاله کښې نوي او پاخهٔ بنیادونه کیښودل. خدائې دې او کړي. نور پښتانهٔ زلمي پیغلې په دغه بنیادونو بنګلې او لوړه ماڼۍ او دروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښتو افسانه د عصري غوښتنو سره سم مخ په وړاندې بوځي .

ښاغلی دریاب که د "غزل زلمی" دی نو د افسانې په کهاله کښې د چرګتي د برے غاړے سړے دے .

خدائ دې ددوئ په ذهن او فکر نوره رنګيني خوره کړي او په قلم دې ئې برکت شي .

میاں فضل الرحمان شاهد
صدر
همیشه پښتو ادبي ټولنه رجسټرډ
امان درهٔ ملاکنډ ایجنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنیا لیونۍ

داحساس برترۍ ښکاره دا لیونۍ دنیا دوه مثین
څرته یو ځای کیدو ته پریښې دي . ځکه نو
ښه به داوي چه مونږ د یو بل نه داسې ورک
شو چه دا دنیا مو په لټون لټون په بله
واوړي . بیا به که خیر وي مونږ
سره یو ځای کیږو ......
عمرونه اوشو چه جانان
ګلپانړې ته داسې وئیلي
وو . مخوۍ هم هغه شان
د یو بل نه ورک دي
ولې دنیا هم
هغسې لیونۍ
ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاورے

ځانګے .... یا ځانګے .... د اسپرلے ولے
وهے . سرپیه ! د اته ګورے نه
چه خاورے خوری .
اُفـو ! پرېږده چیه
خوری کنه . زمونږ پـه
کاله کېنے بے د
خاورونه
څـهٔ
دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جرم

هغه نن ډېر بې توله خپلې وو .....

دسترګو نه يې اوروښه وريدل . دغصي يو

شين تندر وو ، کور ته په رانښوتو

سره يې ديو بوې جرم زلزلې راواسته

ګټي که يې دبنځوالې دقيده

خلاصه کړه خوشحال سړې د

پښېمانتيا په زندان

کښې ټول عمري بندي

کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کوټ میړنے

زما نیا ډیره ساده ښځه وه . چه کله به ورته څه سخته
راپېښیده نو چغه به ئے کړه "چه د کوټ میړنیه را رسیږه"
اګرچه ما به اکثر منع کوله . ولے دا د هغے عادت ګرځیدلے
وو . نو یوه ورځ چه هغے په کټوۍ کښے بـــټۍ
نو ټکول او بټۍ د تاؤ له وجے په مور ګـــــو
داوریدل . نو نیا م چغے کړے چه "د کوټ
میړنیه را رسیږه" - او په دے کښے د برے
د کوټ نه یو لوے منږک په کټوۍ
کښے راګیل شو - نیا ته م او وے

چه د کوټ میړنے را اورسیـــد
هغے ما ته غصه غصه
کتل او ما په کټوۍ
کښے بټ ختلی
د کــوټ
مــیړنی
ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات منګے

لونګ ۔کشماله په خمار کښې اخستې وه ۔ چرته ئے را اوښکله

ور روان شو .... او رو غونډ ے ئے اووئيل ۔ يره

کۀ ته هم کشمالے زما د پاره لو خواښتا تو د

قتلولو همته او کړه نو قصّه ئے تمام وو؟

...... او خو چه هغه کشمالے ته

رسيدو نو د سينه په غاړه هغه ننۀ

وه خو دهغې مات منګے په لاس ے

حالت کښې پروت وو ، ـ ـ ـ کـه

چه د کشمالے د ښېتو په

سندرو کښې د لونګ

په نس پرستئ

پورے په

بق بق

خاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پردی ستر ګے

آخر د استا خلے له راتله خنګله ، ځکه چه ما خوستا

د مینې په خاطر د وینے تولے رشتے قربان کړے

او تر دے چه د پلار د ماله م هم لاس اوونیځل

خو نهٔ پوهیږم چه پردۍ ستر ګے دِ

اولیدے نو خنګه دِ په دوغ زړهٔ

او وے چه

مینه په تلو راتلو زیاتیږي

مونږ ګوره مهٔ راځهٔ زړهٔ د صبر ټینګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما په زړه باندې بلا بلا راووېږي

يوه پنځه شپږ کاله وړاندې چې زړه لا په لوټو وو . او ته به
ځوانه ، نرمه ، ګرمه ، ښائسته او ښکلې وې . هر کله چې
به زما سره په کټ کښې يو ځائې شوې او ما به ځان
ته راجوخته کړې . نو بيا که به واوره ورېدې
ولې تا به په لږ ساعت کښې زما خوږ خوږ زړګې
راتود کړو . او د الله هو په خوږ لږ
به د په قلاره دخوب ټکوروڼه
راکړل . خو نن چې زړه ستا نه ډېر لرې
په مزدورئ پسې راورک شوې يم
ستا نه بغير په سوړې سوړې
ټادر کښې د ژبې او بډ شپه
د ه او شرق باران دے . ځکه که هم اوس
ته هغه ښکلا ، ښائست ، ګرموالے
او نرموالے نه لرې ، خو بيا
هم زما زړے پرستنے زما
په زړه باندې بلا بلا
را اوورېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماده پرستي

دا یوه دا سې بې سترګو بلا ده چه کوم واز
کړي . نو بیا د دنیا هره رشته او خپلوي په
یوه تپه کوي . او هم دا وجه ده چه د
همایون ماده پرستۍ چه کامــــــران
را اونیولو نو سترګې ئې ورله په
تودو سیخانو ړندې کړې . تر او ګه
نیمبوان ئې پکښې پچوړ کړل
او بیا ئې په مجاز کښې
د اجل فرښتوته د
لاس پښو نه
اوتړلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نازولې جذبې

چرته چې د خواهشِ سرلړې جذبې د تیکاؤ خوبه
غېږه بیا مومي - نو هلته بیا د مینې د سېځلو
جذبو احساس په زهرو کښې لامبل
شي او که داسې نهٔ وي نو
سنبل به هیڅکله هم زما
نازولې جذبې داسې
په بې دردۍ
نهٔ قتلولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یقین

برېښنې دی د چا — ؟ برېښنې ږم د تورسپې . برېښنې دی
د چا — ؟ برېښنې ږم د زورهندو . برېښنې دی د
چا -! برېښن ږم د تورے ګچې هلته اینګر آکا —
مالی ماما د موټ — او دلته سپین دا ماته
ښکیا وو . هغه برېښنې د موټو ښټے دے
زه خو پړے ډاکټرانو د ماله خلاص کړم
— بنه یم خو چه لږ زور اوکړم.
نو بیا ږم د یو خدایه وی . ما د
سپین دا خبره زړه ته واچوله
خو سحار ږم مالی ماما
اولید چه په ډولاسی
پهٔ جنګئ کښے
ستبر
دمی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوري

شړق باران دے ۔ د مازیګر مونځونه شوی دی ۔ کبل کاکا
په ړندو سترګو پښې ابله رادوان دے ۔ او چه زما په
بنګالو پوهـ شو ۔ نو په زوره ئې اوویــل ،
تهٔ ګوره ! ظالمان دخدائے د کوره هم غلا
کوی ۔" ما ورته هیڅ هم اونهٔ ویــل
ځکه چه لږه شیبه وړاندے مې د
دکبـــل کاکا زوئے نوږے اولیدو
چه د چهـتړۍ او څپلو سره
د پوړو په تکل
بازار ته په
کــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متېزه

که یو پله په هغو دواړو خوېندو د بنګلا کانو سپړلې

دېره وو - نو بل پله د حیا او درنو خویونو په

کالو هم بناستُه وه - ولې په ټول کلي کېنې

ورته هیڅ هم تن نهٔ ایسېدو - ځکه چه

مورئې په پلار پسې متېزه راغلې

وه - تر اُوسه بې نکاح وه او د اشاق د پلار د مور

د خطا په جهنم کېنې دوئ

په عذابېد ے ، ولې

بېګاه چه شومه دم شوه

نو هغوئ د دغے جهنم

نه د خلاصي لاره

اوموندهٔ او دېو

تیاکلي منزل په

لورد کوزه

اووتے -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زهر ژنه پوته

په تکه توره تیاره کښې چه عکرمے د شوتلو پنډ په شا کورته

راننوتو نو شمکئ ورته سپکه پاسیده . پنډ ئے د بیزے

مخے ته اوغورځوو - او خپله په کټ کښې بوږے بوږے

پریوت . شمکئ ئے هم ترڅنګه پریوته . لږ ساعت

پس داپاسید . یو څو قدمه لاړ - او بیا کیناست

یو لاس ئے د هغے په سپین مهین وجود په قلاره

قلاره ګرځولو او بل لاس کښې ئے د هغے تی

را اونیول - کله به ئے ورله په یو

"تی" زور کړل او کله به ئے په بل

دغه رنګ کله به ئے د هغے په

نرمے او پستے خیټے لاس اووهل او کله به ئے خپلے سینے ته

راجوخته کړه - آخر شومه دم شوه - او عکرمے هم اوده شو

خوسحر چه هغه د خپلے بیزے نه د پیئو اخستو په غرض وراغے

نو نه ئے خو په هغه وجود کښې ساه وه - او نه ئے په

هغه "تیو" کښې پیئو وو په کومو چه هغه

بیګاه لاسونه وهل - بلکه د غلا په

زهرژنو دارو پونه شوو شوتلو

هغه د عکرمے نه مړوږ

کړے وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانهٔ

د بیوټي پالر نه چه راغبرګیدلو نو لاړه کینې
ټریفک جام شو - دے کېنې یو سپین ږیرے.ځوګي
په لاس زمونږ موټر پله راغلو، وئیل ئے.
"خان ! بي بي ته .ځوکے واخله کنه — مام
کوروداسے ته اوکتل چه ویښتهٔ ئے زما د
ویښتو نه هم وارهٔ وو - هغه مسکئ
شوه - ما هیڅ اونهٔ وئیل - البته
سپین ږیری په تلوتلو کېنې
اووئیل - یره هغه پښتانهٔ
خاورو اوخــوارهٔ چه
وئیل به ئے - د
ښځے په ناځ
خــهٔ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# برندہ خاموشي

سر! زۀ هم د دے ډیپارټمنټ ریګولر سټوډنټ
یم ۔ زما اکیډمک ریکارډ ستاسو د وړاند ے دے.د
یونیورسټۍ ریکارډ هولډرز نه علاوه زۀ ګولډ میډلسټ
هم یم ۔ ولے د خپل اېډهیل استاد برندہ
خاموشي ماته لکه د غنچے په څیر په
سلو ټېو ګویا شوه ۔ چه صفه په
مات زړۀ د یو خاص سیاسي اثر لاندے
د یو تهرډ ډویژنر ارډر اوباسي
او هم دغے ارډر زمانه زما
دحق سره سره زما
د سر سیورے هم
او تروړلو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیبرل مائنډډ

آزادخیال - روشن خیال - لیبرل مائنډډ
جوادخان د انګلش پروفیسر چه په ورځ رادننه شو
نو خپل نابالغه زوئے اولور ئے لغړ سوغږ
په قابل اعتراض حالت کښے اولیدل - د
پښو لاندے زمکه ئے اوتښتیده - لغ کوټه
ته لاړ - او کلاشنکوف په لاس
را اووت - په ځائے ددے چه د
خپلے آزاد خیالۍ قتل ئے کړے
وے - په جت ولاړو
وشی انتہا ئے په ډزو
سوړ سوړ
کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بناپیرئ

بیگاه چه لس بجے کورته راورسیدم ، نو
نیمځے راته داحمددین د مرګ روح چیچونکے خبر
واورولو - یره ! غریب داخلوپنځت کاله
دیو ژور نفسیاتي کشمکش په کومی کښے تیر
کړل - چرته فالی ورته ویلی وو - چه
چه په تا به بناپیرئ مئینږی - ځکه
نو وادهٔ مهٔ کوه - او هم داوجه
وه چه دخپلوخپلوانو او
یارانو دوستانو دبیا بیا وینا
باوجود هغهٔ وادهٔ نه
غاړه کینښوه - مئین
مړشو - خو بناپیرئ
پرے مئینه نهٔ
شوه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نزوبه تومله

څه کهٔ هم جان ورپسې پهٔ تلو راتلو څپلئ
اوشلولې ، خو "رنړا" د سحرکورته ډېر
توت خوړلې وو . اودا څکه چه
د جان ژوند بخښونکې تومله
د هغه بې سره څوانئ
نزوبه کړې
وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوټا

ما چه ږم پیں نه داوداسهٔ دپاره لوټا سمه
کړه - نو راته ئے اوفرمائیل چه زما لوټا سپه
خلوت خانه کښے دے - هغه راوړه - ما چه ترے
دخلوت خانے دلوټے راز اوپوښتلو - نو
وے فرمائیل : دریاب خانه دهرے
لوټے نه خوخوک ستر نهٔ ماتوی کنه.
ما ږم دپیر دحکم تعمیل اوکړو ولے
فکر یوږم چه زمونږ دملک دهرے
سیاسی پارټۍ مثال خودځان
خرخونکے رنډۍ دے چه
دهرے لوټے نه دځیل
ځان او کالهٔ
ستر
ماتوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جامے

زۀ د وادۀ قائل نه يم ځکه چه د انساني ذات تکمیل
د وادۀ نه بغير هم کیدے شي - عمران به اکثر د ښیا
ولے پرون زۀ په سره غرمه کښے لغړ سوغړ اوېدو
چه کور ېله په منړه وو - دوسته خبرشوم
چه د ترکانړي کره به بدنيتۍ اوختے
وو - اودغه زامنو تر ے جامے
اوښکلے وے - ماغوږونه پيرۀ
کړۀ - اويقين نه زۀ پريوته
چه به رشتيا شي
د سرو د پاره او
سړي د ښځو
د پاره جامے
دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړپاڼه

زړپاڼه او ملال که په یو بل ورک یوئ

دو خو په زړ زړی شال کښې د زړې شړئ

پیوند چرته ځائیدو او هم داوجه وه

چه ملال که د زړپاڼې نهٔ شو، خو

دعنې دوادهٔ نه څوشېې وړاندې

ئې د زړپاڼې د غوښتنو سالو

ته هغه څه ورتهکوهل

چه د ګناه زړ ئې هم

لرل او د ثواب

خوشبو کښانے

هم۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدل

خانیزه زهٔ ستا دناجوړه پلار خدمتونه نهٔ شم کولے. ترڅو

چه هغه په دغه کوډکښے وی . نو مامه وینه —

او — دا زما آخری فیصله ده . ماسختن شوخو

دخانی په مزغوکښے دښځے دے رتهلی جواب

غوښمنه جوړ کړے وو . اوس تیاره

شوے وه . پلار ئے په شا د سیند

غاړے ته یوړو . نوچه سیند ته

ئے غورځوو . نو پلار ورته

اووے: بچیه ما ددغه بوډکس

نه سیند ته اوغورځوه.

ځکه چه مارم دپلارنه

دنیکه بدل هم

دغسے اخستے

وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګانړۍ

کلي کښې کهٔ به دچا خپل پیتې وو اوکنه ، خو ګني
به ئې دعظیم ګل ګانړۍ ته راننوستل، او
هم دلته به ئې ګانړۍ کول ، ولې د
حیرانتیا خبره خو دا وه ، چې کله
به پوُر تیار شو . نو دکلي
یو کس به ورته هم نهٔ
رانږدې کیدو . بلکه دا
به عظیم ګل په یوازې
ځان خپل پوُر
ګنړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې عملي

انون ناصرخان زانه نن مازیګر اووې . ماسټرصاحب - بېګاه

نو دوېړې نه هم یم . ماوې ! اخونه څنګه ؟ وېل ئې زمکه د

تانبې وه ، نمر نېژدې و . وېشتېدلے او به راښکے وې او ملک

دخرو نه ډک وو . ما پوښتنه اوکړه چه نور خو لا نو ب

دي وے دادومره خره څه کوي ؟ جواب راغے

چه دا بې عمله ملايان دي - اوکه یقین دې نه راځي

نو دځان نوا ته دا ولاړ خر دغوږ نه

راکاږه چغله به پوهه شې ما هم هغسې اوکړه

او چه څنګه مې هم خر د غوږ نه راکاږه و

نو مولانا صاحب چغې کړے ، پرېږده

- پرېږده - ظالمه مړه دې کړم

- ما چه ستړګې اوغړولے

نو نیمه شپه وه -

زما لاس ورو - او

د مولانا صاحب

غوږ وو - توبه مې اوویسته چه زما د

ځلوېښتو کالو استاد او بې عمله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډولۍ او جنازه

دا څل چې منیر درې میاشتې پس هم کور ته رانغی.نو
چنار اکا لیږې خپله بنار ته لاړو . ولې مازیګر د
بم په یوه چاودنه کې په حق اورسید . او
سحر چه منیر دکامیابې بم چاودنې نه
پس ږک جیبونه دګلې په کنړو
راوړیل ، نو دبم په چاودنه
کې ئې دپلار د مرینې خبر
هم واوریل . هغه خو به
په دغه پیسو خپله
ډولۍ راوړی - ولې
د پلار جنازه
ئې اوویسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حزمونے

دالسمه رشته وه چه د "پری" دپاره راغلی وه،
خو پیته نشته چه جمال اکا ولے غاړنهٔ ایښوده
په هر طور بیا یو وخت داسې هم راغلو
چه په "پری" پسې د رشتو راتللو
تمبے پورے شوے ، او نن د سحر
دمونځ نه پس جمال اکا هغه
ماشوم کورته ننه ویستو
کوم چه لږه شیبه
وړاندے هم د دے
کوره "پری"
ویستلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړنګ ګل

سنګین دیو شتمند پلار نیازبین زوئے او بانو

دیو مے بے وسه مور غریبه لور وه - څه کـه

هم د بانو د ارزوګانو مرکز سنګین وو - ولے

هغه دخپلے ترلے دپاره د تاتړے دیو

دربے کړنګ ګل وو - چه هغے ورته

دحسرت د تاترین نه کتلے شو که

نو خپلوئے نهٔ شو - او

عن چه دغه ګل وختونو

دخپل روایتی جبر

ترمخه په یو

بل اوربل

کښیے

اوتوبلو.

# پرتوغابښ

زړه چه په ډاک ورښکاره شوم نو هغه دکور مخے ته په
دروه ناسته وه - چه زړه ئے اولیدم نو پرتوغابښ ئے په لاس
کښے اونیوؤ - مسکئ مسکئ کیده او په پرتوغابښ ئے لاس
ړقول - زړه ورو ورو ورنږدے کیدم هغے کله ماته
اوکله پرتوغابښ ته کتل - عین چه زړه
ور اورسیدم او هغے زما لاس تش اولیدل
نو کړکی ئے گذار کړه . وے خه!
نه کوم درله پرتوغابښ، او په
ژړا ژړا کور ته ننوته . وے
زما د احساس پښے ئے شلے
کړے په دے چه

منم اختر دے خو غربت م قتلوی بچیه!!
تاله به څه بانډ بنګړی پر ځم نکړیږے راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیسې

شمشیر لاله
چه د سرتور فقیر په زیارت دُعا اوکړه
او راوتلو - نو خوا کښې ولاړ یو ماشوم
ورته اووے.

کاکا په بابا پیسې کیږي ده کښه ـ
شمشیر لاله یو سوړ اسویلے
اوکړو او ماشوم ته ئے اووے
ځارشم ، زۀ خو
خپله د بابا سنه
پیسې غوارم نو
څه پرے
کیږم دم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعتماد

هــئ ـ ـ ـ ـ هــئ ـ ـ ـ ـ زما کور ودانــےپهٔ

ما پیره میینه وه ـ او هغے چرتــه زغملے

شول چه زهٔ دِ دهغے په امانت کښے

ذره برابر خیانت اوکړم ـ ولے زما

دخواهش نوکارو چه دهغےداعتماد

نازولے ګونــه شو کےپوکے

کــړه ـ نو هغے خوځان

مړکړو ـ ولے زهٔ

ئے داسےپریښوم

چه نهٔ مــرم

او نــهٔ

ژغیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څرکندیوونې

څرګندیوونې نهٔ دو- خو چه زړمے زوړے ئے د ښلمے پیړۍ

یارانے د مهو خوراک کړو - او دغه د سیند وچولــو

هره ځمځه شنړ ے شوه - نو سوداۍ شی- پوره

یوکال پس چه سیند د ضروری مرمت د پاره

وچ کړے شو - او یو سړی څرګنـــد

ته غوږ اوکړو چه راشـه که مهیان

نیسے - نو مغز په تشو لاسونو کیښوده

او تر لرے لرے پورے ئے وچ شوی

سیند ته اوکتل- ما دا سے محسوس

کړه چه د دغه ړړغونے سترګے

بیکښے هغه ورکے سترګے

کوری . کوم چه

بے سترګو یارانے

په اعتبار کښے

بنا کړے

وے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متهاکي غوز

د کلي ساده جينکۍ د خپلې دروغژنې مينې په نومه کېښې ګېرول . هغوئ د وختې خوند اخستلو په غرض دوکه کول . ادبيا ورته د ځان نه متهاکي غوز جوړول . د اعظم خان د کس لاس کار وو . ځکه چه يو که د هغه غوږ غوړئ بنسه وه . نو بل پيسه هم ورځنه وړ . ولے پروين په هغه جينکو کېنې نه وه . کله چه هم اعظم خان ورته د ځان نه متهاکي غوز جوړ کړو . نو هغې ورله د رسوائي يو داسے دروند کالے راواچوو چه هغه ئے په مينځ دو کړ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوکري

دصوبیدار کاکا سپړه سم نوی رابدل شوی ؤ اکی هم بیک
اولوستلو ۔ او ورته ئے اووے ۔ کاکا ۔ مبارک شه، که
څه منبنته دِ کړی وی نو راځه ئے کړه چه ختم ـــ
صوبیدار کاکا دَ خوځے دَ نوکرئ دے آر دِ ته یوسوړ
اسویلے اوکړو ۔ او وے ویئیل ـ
" څوانه زمونږ په ملک کښے دپریوتے
طبقے دپاره د نوکـرئ مثال د
نشانِ حیدر دے چه په ډونډ ئےچاته
نهٔ ورکوو ۔ دے کښے یوسړے
دبهر نه راغے اووے ویل
صوبیـــدار صیب لاس
به اوچت کړو چه
خدائے ستاسو
بچے اوبخښی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باور

دباور په مزغو د وي . سي . آر فلمونو دومره ناوړه
اغیزه کړې وه چه هغهٔ ته ځان د فلمي دنیا یو
ستر هیرو ښکاریدو . او هم دا وجه وه چه هره ورځ
به ئے ګلالئ ته د تختو پل پینولے وو . ولے نن چه
هغه د سکول نه راتله نو دهٔ ورته په یوه ډیر
ښکلي فلمي انداز کښے د خپلے ناقراره مینے
اظهار اوکړو . هغے د پوره خاموشئ نه
پس اووئیل "باوره باورم نشي
او بیا ئے د پل لاندے غورځېدونکو
چپو ته اوکتل ولے د
هغے باور هله اوشو
چه هغه د یو بوئے
فلمي هیرو
پشان
ځان د غه چپو ته اوسپارلو او خانزه ئے هم صحي نهٔ
شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غانړکۍ

وړوکوالے بادشاهي وی ـ ثابته غرمه به ړم هم
دلته ددے ادیرے په لاره غانړکۍ نیولے
او مازیګر چه به په لوبو بندهٔ ستړے .
شوم نو غانړکۍ به ړم پریښوے
ولے مودے اوشوے ،چه
هم په دے لاره یوے
غانړکۍ زهٔ راونیولے
ټیم ، په ژوند
ړم لوبے کوی
خو پرېږدی ړم
نه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تَلَه

---

بابو صیب . . . یه بابو صیب ځان او تلئ کنه - خو زما په انګاں
چه هغه په ژړا شو ، نو ما ترے تپوس اوکړو چه ولے ژاړے؟
وئیل ئے دادے تهک مابنام شو اوبوکس هم ځان اونهٔ تللو
زهٔ چه دا سے تش تورکین دیٔ ته لاړشم نو بیا زمانه
زیات زما وارهٔ ورونړه ژاړی . زهٔ بے کچه خفه
شوم او ځان تللو په غرض چه څنګه تلے ته
ورا وختم نو خوا کښے ولاړ یو فقیر ګویا
شو . ځا نونه په دے تله مهٔ تلئ
بلکه د عمل په تله ځان او تلئ
ما فقیر ته اوکتل بیا م ژړغونے
ماشوم ته او بیا په باغ ناران
کښے هغه بے شمیره جوړو ته
په یو بل اچولی
لاسونه
ګرځیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انډیواله

ټبرکه ډیر غوښتل چه هغه د جمعې سره مونځ اوکړي.
ولې خلقو نه غوښتل چه ټبر د هغوی سره په یو
صف کښې اودریږي. اوهم د دې ناروا سلوک احساس
به هغه اکثر جماعت ته د راتللو نه ژغورلو
نن د اختر په مانځه کښې هم اولیدو چه د
ټولو خلقو نه شاته زمونږ د کلي مشهور
میجرانو "نیکي" سره اودریدلو خو چه هغه
ورته هم صف پریښود، نو د جماعت په
وروستي صف کښې ولاړ ملک صیب
ته یې بد بد اوکتل
او راووت، د یځلې شي
چه د ټبر مور مسم
دغه ملک میب
انډیواله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه رنړا

کچکول خپل ټول عمر په پیرئ مریدئ کښې تېر کړو - ولې
د بچو په تربیت ئې څه خاص نړا ملرنه اونه کړه - پرون
ئې دوه زامن په غلا کښې نیولي شوي وو - بیګا چه
مونږ ماسخوتن تېر د تانړے نه واپس شو - نو ما
ورته اووې "چه ما سره نه پاتې کیږې - او
خاخا ځې - نو اوودرېږه چه څه رنړا خو ورته راوړم -
وېړه تیاره ده" هغه وئیل پرېږده - زه
د زړه په رنړا ځم او رخصت شو
سحر "سباوُن" راغله - وئیل ئې
کچکول بیګا ناله کښې راپرېوتے
دے - پښه ئې چوړ شوې
مانه ده - او هسپتال
کښې دے - ما وې، بنه کچکول خو وے - چه
زه د زړه په رنړا ځم .......

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورورى خورى

دسمر بانګونو ته څه وخت لا پاتې وو. زۀ د لامبلو په غرض
چاپ ته روان وُوم . خو د تيارے له کبله معلوئ ته زۀ
نۀ بنکاريدم . شير و عبدل ته اووے، هلکه ستا
وارۀ خو ډيلار کړه لاړ دى نو دا بيا ولے چاپ ته
روان ئے . پرين دۀ زوره وره ! "ډيارئ" د کوره
راغلم . استغفرالله اوهغے ته چه تا خود
ويلے دۀ . نو څه اوشو . ورورى خورى
به کوؤ خو حساب کتاب به ئے ترمينځه
دى . عبدل دا اووئيل او

به چاپ
ورننوتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیوس

ممانړے چې ئن جمیل صیب ته د سپرغے د غابنونو راختلو
زیرے واورو ، نو ورته ئے اووئیل چې دے له د
دردونو دوائی هم پکار ده - هغه اول ببرسر
او اوږد حجامت ته اوکتل . بیائے په
ځیل تش جیب نظر واچوؤ . او دیو
سوړ اسویلی نه پس ئے اووئیل
" سپرغه چې غابنونه
راوباسی نو ما نه هم
تیوس کوی
اوکنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزړه غوښے

هغه هم وختونه وو چه زما غيږ ته به راغلے - ما به دِ دنړئ ملا ته دواړه لاسونه تاؤ کړل - په کبين کبين کوکئ به م دَ خله کيښوده او ته به په سترګو کښے مسکئ شوے زه په تاسئن ؤم - بے کچه مئين.

په دے چه زما د زړه غوښے وے. وے ن چه به تا د ځوانئ سپرلى خوا ره شوه - نو ته به بل مئينه شوے.

زما به مخ دِ د بد نامئ نوکارى راکاږل - زه دِ سپريښوم

او د بل سره لاړے

منم ! چه مينه

ګناه نه ده

خو خپل سيځلي

اقدار چقول

هم ثواب

نه

دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بکرو باباجي

ماچه سکینه تور په سره غرمه په پردې کلي کښې اولیده . نو
پښتنه م ترې اوکړه چه تور خیر خو دے کنه ؟ —
وئیل ئې خیر چرته دې دغه ایکې یو للے م دواو
هغه ئې هم د تورو تمبو شاته کړو . دے
بکرو باباجي له راغلم چه څه تعوین
راله اوکړي . ډېر میړنے دے —
سم تک پرق وی - سبا ته به
م زوئے راخلاص وی . ځکه
حیران شوم - ولے زیاتیحیران
په دے شوم چه هم
په دغه وخت بکرو باباجي
پولیسو په مټکو
کښې بندیوان راروان کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرام

داریډیو پاکستان دے اوتاسو خبرونه اوری . نن په اسلام اباد
کښے یو پښتانه وزیر د ډېرو رشوتونو او کرپشن په کیسونو
کښے گرفتار کړے شو . ویلے شي چه دده اسونو ته
په د منړو او شهدو مربے ، کچ ، بادام او سوچه
شوده ورکولے شوه . . . . . . ددے خبر
په اوریدو ملنګ مستري د دوړۍ نه پاسین
— اونګیا شو ، ته ګوره په موږ
ګزګز خاوره پرته ده . موږ خو ږ
لرے خورو . او ددوی اسونه
ږ دا خوری . نو ګورے چه
دوی به پخپله څه خوری؟
نعمت دیاړی مار ملنګ مستري د لاسه اونیوه
دوی ته ئے کینوؤ . او ورته ئے اوو ئے .
استاد که هغوی هرڅه خوری نو حرام خوری
موږ که لرے خورو او که کوټے . نو شکر دے
حلال خو دی کنه . ملنګ مستری
توبه اووئیسته او بیا په کاسه
کښے د لرې سره په
پرزولو شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

دانځو د لوګي ښکلي خوښه وه . سلمي
که ډير غوښتل چه د هغې غيږه دې په نارينه
اولاد ډکه شي . خو د هغې د هر تدبير
پښې به د تقدير په توره غوځيدې .
او نن چه سلمي ګ د بښتون
په زنځير او تړله . خو
نن هغې هم دا سې ګناه له
غاړه ورکړه چه د
هغې نه پس د
توبې تمبې
پورې
ورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ؟

زما نشي یاد چه هغه ګڼي زما د حجرے نه بل پله تلے دے. سږ
ددے چه ما پرے د غصے تند رونه ورولی دی. وهلے م
دے. رټلے م دے او عن چه شړلے م هم دے. خو
هغهٔ خاطر نهٔ دے درونه کړے. بلکه د یو
چمتو څوکیدار په حیث ئے د ژمی اوږدے اوږدے
شپے زما دپاره روښې کړی دی. زهٔ ئے
د ژوند تر آخره ورځ پورے خپل مالک
ګڼلے یم. او زما پهٔ زړهٔ ئے د خپلے
فرض شناسئ، خودداریٔ او وفادارئ
ژور خاپونه پرینبی دی.
ولے د افسوس خبره خو داده
چه ما د خپل مالک درپرینبے
دے. خپل فرض م لا
تر اوسه نهٔ دی پیژندلی، د خودداریٔ په ګرد نهٔ
یم ګرځېدلے، د وفاداریٔ بوشنک نهٔ لرم او تر ننه م
د خپل مالک دپاره یوه شپه هم نهٔ ده
رونړه کړے. نو اوس تاسو
او وایئی چه زهٔ ښهٔ یم
کهٔ زما خر د؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روړید لے بیاسته

کوهیان ویستل که د سنګری کار کسب وو نو کومیان
ډکول هم د هغه نفساني مجبوري وه او داسے به ډیر
کم کورونه وو . چرته چه سنګري کو هے
ویستلے دي او ډک کړے ئے نهٔ وي . دیه
هر طور ورمه ورځ چه هغه دیو ډیر
زوړ او ژور کوهي د ډکولو په مځه
وراغے او په کار بوخت شو، نو
د ژوند د کړکړې روړین لے
بیاسته پرے اوشلیده
او سر د لاندے
پریوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چنده

توبه خدایه توبه ..... دجمات امام او بیا دجماته غلا ـ
یره ! د نهٔ منلو خبره ده . نو .... ګوجرلالا ټول کلي په
یوه پښه کړو . څه که هم مولانا صیب دخپلې بېګناهۍ
ډیر دیلونه وړاندې کړل . ولې ګوجرلالا چه دخلقو
په مزغو کښې کوم زهر خوارهٔ کړی وو . دهغې په
پرتله دمولانا صیب خبرو ځائې او نهٔ نیوهٔ
ځکه نو دشپې شپې اووت او خپلې سیمې
ته اوکښید . لږ مے ورځے پس ئے په
ګاډی کښې یو ملک اولید چه هم مغه
بیړئې په ټوکرۍ کښې ایښې
چندهٔ غواړی . کوم چه دجمات
نه دسو زرو روپو سره
پټ شوې وو . مولانا صیب ملک او پیژند چه
داخو هم مغه دګوجرلالا زوئې دې چه ده ئې
د رانبتولې ماشومې سره دنکاح نه انکار کړې
وو . ولې مولانا صیب نه څه
کولې شو او نه ئې څه
وئیلې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورخته

غیرت خان دخپل ټبر سره ډېر لرې وتی وو - ساه ئې په
ګونګو راماته وه - مخ په بره د درې څوکنډۍ ته لا نیمه
لار پاتې وه چه دې کښې پرې دیو ارخ نه "پښتو"
را او دا نګل او دواړه ارلیچې برلیچې شول - نژدې
وه چه غیرت خان ترې په تیښته کښې
بریالی شوې وو - خو پښتو په خپلو
ملګرو غږ اوکړو -

چه ما هم مړ کړئ خو چه دې
درنه ژوندې لاړ نه شي
ملګر د ئې هم هغسې اوکړل
پښتو خو د غیرت سره ځان
په توره نیم کړو
ولې په خپل قام ئې
د مغل ورخته
په شا
کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپلونه

ریشمان ته چه راغلے میلمنے د زوزادبندئ
پیغام "د الف" نه تر "ی" پورے
واورولو نو دمغے په زړکو سترګو کښے
غټے غټے اوښکے راغلے .
او میلمنے ته ئے په ژړغونی
آواز اوویئیل -
خورے ستا نه ځارشم
خوشحالی غوزانو
ته څوک شپیلونه
نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام څه په داسې ډول کیږي چه د لوستونکي ذهن تر بې
اړو مرو خپل اثر اخلي او بنده په دې ویناً مجبوره شي چه
دریاب په کوزه کښې سمندر بند کړې دی .

دعلي خیل دریاب د قیصې د ا شکل که زمونږ په
ادب کښې خپل ساری لهتوی . نو ذهن دعبدالقادرخان خټک
په ګلدسته باندې ټیکاو سې کوي . "ګلدسته" دفارسي
ژبې د نوموړی لیکوال شیخ سعدي د ګلستان پښتو ترجمه ده.
کومه چې زمونږ د نثري ادب په ورومبو کتابونو کښې ډیره
قیمتي دالئ یادیږي . او لکه څنګه چه د ګلستان حکایتونه
د شیخ سعدي د مشاهدې ، علم او فکر یوه بې بهاپنګه ده.
هم په دغه ډول بناغلي دریاب دخپل چاپیرچل اوخوا شا
نه داسې واقعات ، کردارونه او مشاهدې راخستې دي . او
په خوند خوند او رنګ رنګ ئې بیان کړي دي چه دوستونکي
ورته په داد ورکولو مجبور شي . زما ددې وینانه دا مطلب
اخستل نه دي په کار چه ګنې زه خپل شاګرد دسعد
غونډې د نړیئز ادبي شخصیت په مقابله کښې راودیتل غوارم
زما اشاره د دریاب ددې افسانچو اسلوب ته ده چه هغه
د بناغلي سعدي شیرازي د حکایتونو د طرز سره ډیر
سمون خوري .

"د ګل پانړې " د افسانچو انداز طنزیه دې او هره پیښه
هره واقعه او هر کردار پکښې په شعوري ډول د لیکونکي له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیرنه تولیه

والاکی یوه داسې خیرنه تولیه وه چه هرچیا
به پرې د خپل شهوت ناولی لاسونه پاکول
او ن ماسخوتن تیر چه د بده مرغه شفیق هم
په دغه مخه وراغـــلو ، نو سحر دمخ
د ژوند اینـــګر ته دغه خیرنه تولیه
ځانګیده . ولې د شل کاله
تیرېدو باوجود هغه یو ځل
هم استعمال نه کړے
شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میراثه - کونډه

کریم او کلیم چه په چتیٔ کښې راغلل - نو په غولی
کښې ئے د پرستنو صندوق اولیدو ۔ کوم چه ئے
مور د صفائیٔ په غرض رابهرکړے وو ۔۔
دواړه ئے پوهه ما شومان ورته ور ادمګتل؛
وخپله ئے د صندوق سر رابند کړو
بیا څه وو ، ډیرے ترتغے ئے
وو هلے ، خو څه چه کونډه
زرغونه د شتمنے اېئ
د تپوس نه راتله
نو هغه میراثه
شوے هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بے روزګاری

ماسخوتن چه د چرګئ په غاړه د ډوډئ خوراک نه
وزګار شو - نو ادے م د ټولو کشر ورور ته
او وے . "بچے موږ زده کړه ....موږ
....ګنی بیا به درله څوک ښځه
نهٔ درکوی .

هغه

زما بے روزګاره رایم - اے
انګلش) ورور ته اوکتل

او ، ادے وئیل
ولے خان دادا
له هم موږ
نهٔ ورځی
ښځه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوارګر

زما نوم زهــرا دے

د برڅــيلي ډ شـــګلـې بانړے د طوطۍ ګل لور

يم . پښتونيشت کاله وراندے چه پـلار

د جوارۍ په دوق باسُـللم . نو

ګښـــلي جوارګـر تر دے راورسولم

ماموں چه د چکلے په برنډه

تيـــاره ګنپـې د خپلے سکه

خور پيښـنـه ګلواوکړه

نو هم د هغے په

غين ګنپـے په

لوئے خوب

اوده

شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

I miss you so much.

دا د حیا نازولے احساس وو که د مینے انتها وه چه د دوه کاله
مو په ځانځے داړول خو ما د خپلو تودو جذباتو اظهار
ستا په وړاندے اونهٔ کړے شو - ولے اوس چه زمونږ د
د بیلتون ایله یوه هفته شوے ده - او زما د زغم
پړی پرے کیږی - نو په دے لیکلو مجبوره شوم
چه د ژوند په اوږده لاره زما ملګرتیا اوکړه
زهٔ بیخی یوازے یم اوکه تا زما لاسے
اونهٔ نیوو - نو زهٔ به ورکه شم
ځکه چه

I miss you so much

د خوب په طمع - ستا پاغونده

لیک م اولوستلو ولے زهٔ حیران ووم چه نهٔ خو په یونیورسټئ کښے
ما د غے جینئ ته چرته په خوابده سترګه کتلی وو - او نه م
ترننه داسے څه سوچ کړے دے - په دے چه زما په سرکه
د پنځه خویندو د وروڼو دروند پیټے دے او پښو کښے
م د دریو وروڼو د تعلیمی اخراجاتو زولنئ دی - نو
د ژوند په ازغنه لار د بے روزګارئ تګ هم
دے اوس تهٔ اووایه چه په
ما مینه تا ته څه
اولیکم -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژرنده

دکله نه چه ناظرے دخپلے ژرندے مالک شوے
دو ـ نو هم دهغه وخت نه به کله کله مشرخان پخپلو
اوبو دهغهٔ ژرنده ګرځوله ـ هم دارنګے پــرون
ماسختن تیر چه مشرخان پخپلو اوبو د ناظرکی
ژرنده نیمهٔ اوګرځوله او واپس شو ـ نوځهٔ
ګوری چه ناظرکی هم دمشرخان پـه
ژرنده اوبـه راسیے کړی دی.
ناظرکے خوئے مرکړو او دخپلے
ژرندے ورونه ئے هم د
همیشه دپاره قرب
کړل ـ ولے نهٔ ئے
ځان ته څه اوئے
اونهٔ ئے د
ناظرکی ژرندے
ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلتالان

اکبر د صدیق استاد د مېرمې کور ودانۍ ایکی ډ ډکې وو. ځکه چې
د هغه د دوېمې ښځې د زوزاد نیانګې شنډ ې وو. دیتمارځن
نه پس د هغه ډولئ صدیق استاد تر کاله کړه. اګرچه
اکبر د مېرمې مور د بد سلوکۍ له وجې دے ته غاړه
نهٔ ایښوده خو پلار ئې پرې دا زهر په وچ زور
اوڅښل. څو ورځې په قلار تېرې شوې.
خو ورمه ورځ چه اکبر کور ته راننوت
او پلار، مور ته ئې لاچې دانه په
مینځ کېښوده. نو مور ئې د کله د
ښلوئ د قهره تاؤ شوه
اکبر ته ئې د پلار په وړاندې هغه څه اووئیل چه سپی
هم په ژبه نهٔ ایښودې. بیا پاسیده او د اکبر
د واسکټ د جیبه ئې یوه توره ګوټئ راواخسته.
وے ته ګوره. ښځې له شلتالان راوړی — او دے
سره ئې ګوټئ پرانسته. چه پکښې
دوه ډبي هېر ریبونګ کړې پراته وو. بیا څهٔ
وو. زمکه چاودهٔ نه
او آسمان لرے وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مذهب که مینه پښتو

یاسمین زما په غیږ کښې سر کیښود او په سلګو سلګو ئې اووې
مونږ که د مذهب له رویه د ژوند ملګری نهٔ شو جوړیدې
په دې چه یو ځائې مو پېئ خوړلی دی - او د
مینې د دستور له مخه زمونږ بیلتون ناشونی
دې - ځکه نو د پښتو د روایاتو په
اروند زهٔ تا ته خپله ځوانی
بخښم - او ما هم په غیر شعوری
طور د هغې د نمبه نمبه
جذباتو د سر
نه خپله ځوانی
تاوُ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قاتل څوک دے؟

په دا سې حالت کښې چه بېدرېغه دښن او دسبا وه خوبيا پرے
هم خپلو مجبورو دخان دکور رخن متونه کول - ماښام چه
تيارۀ نګيدله اوشرق باران وو نو هغه موزي کل ته
اووے - سرېه ! زۀ ستړے يم - که دا تيل نه ړ
تيل زاورۀ نو ډيره به ښه وي - شپه ورته
دۀ - او په لالټين کښې تيل نشته - د ے
موزي کل دشکورۀ ښيبے راتاؤ کړے او هغه
ئے په زور اتيل ته اولېږله - بدرۍ
د دوۀ اګو تيل په لوئے شيشين
بوتل کښې واخسته او را روانه شوه
خو دجمات په شاچه ځۍ په برۀ راخته نو پښه ئے اوخوئېده
رالرتاؤ شوه او دشيشې بوتل ئے په خيټه کښې مات شو
په يو وخت دوۀ کسه قتل شوه ..... قاتل
څوک دے ؟ موزي کل ؟ - شيشين بوتل ؟
که د يونين هغه ممبر چه تېر کال
ئے زموږ سرۀ سرۀ د بدرۍ
نه هم ور دے لارے دپخو لو
په بهانه ووٹ
اخستے وو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپیر

ماشومانو اسلام نه دی لیکلی نو اوږد دی

ماګلیرخے زورور سرے وو ـ په بت خیله کښے
ئے یو هندو راټینګ کړو ـ ورته ئے وئیل
هلکه دا کلمه او وایه چه
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰه" او
مسلمان شه ـ هندو پوهه شو ـ هغه
وئیل بنه ده ـ مسلمان شوم ـ کلمه
م او وے چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ محمّد
رّسول اللّٰه" خو اوس م دے
کلمے په معنیٰ مقصد او
فرائضو پو ئے کړه ـ ماګین
وے یره په دے خو
زه په خپله نه پوهېږم ـ
هندو ورته د خندا
نه شین شو ـ ورته ئے
او وے نو بیا په موږ
دا ولے کښے "توپیر"
د څه دے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# MENSES

زړه ولاړ پوځم - نیک عمل ډاکټر شفیع ته ورغی ! یرغمالی
د زمري زوی دی، څه کله هم د جمات سره یې ورانه دله. غلا
ډاکه او جواري هسې و ګناه نه ګڼي، خو روژه خوړل
ورته کفر او بې غیرتي ښکاري - او هم دا وجه
ده چه خپله درې میاشتنۍ ناوړې
په روژه خوراک اولیدو نو ځنې تر
او ویست - ډاکټر شفیع او وې - زمري
نه - څه دي - څه حکه چه په
عذر کښې روژه خوراک نه بې غیرتي
ده او نه کفر او د هغې د میډیکل
رپورټ نه معلومه شوې
ده چه د هغې عذر وو
او د هغې عذر ته په
په ډاکټري اصطلاح کښې (Menses)
وائي - ډاکټر صاحب ماته مسکې
شو او نیک عمل مونږ ته
حیران حیران کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شین خالئ

هغې چه به پخپلے ماتے ښیښنه کښې اوکتل - نو د
خندا نه به شنه شوه - اول اول زما خیال
وو - چه لیونئ کښې په ځان پورے
خاندی، ولے نن چه ما شین خالئ
د درنے ګیډے سره اولیدله
نو پوهه شوم - چه
هغه په ځان پورے
نه بلکه په مونږ
پورے
خاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څادر

ګلرنګ نن بيا دڅادر ذيل ښيولے وو . دبےوسه
پلار چه نور وس او نه ؤ رسيد . نو بيا ئے پرے
رابانده کړه ، بنه ؤ ئے اووهو . دکوره په
وتو کښے ئے دځان سره اووے . ته ګوره!
دے خپلے غريبئ ته نه ګورې . زمونږ
د رزق درک نه ؤ لګی اوخان پکښے
څادرے غواړی . هلکه سره
دخپل څادر سره ښپے غزوی ګلرنګ
ورته په ژړا ژړا کښے اووے .
داجی چه څادر م نشته
نو ښپے د څه سره
او غزوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توبې بورجل

بیا بیا ګناه — بیا بیا پښیماني او بیا بیا
توبه - نه - بالکل نه - په ګمان
پوهه نهٔ شوم - او خپل ځځ ته م
د شرابو تش بوتل را اوغرڅوو . زهٔ
زخمي نهٔ شوم . ولې ځځ
په دیوال لګېدو لے ائینه سرٔه
د بوتله چورې چورې
شوه - افسوس چې
د توبې بورجل نه
وې - نو
ګناه به
خپرته
وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعلیم

د یونیورسټۍ په میرج هال کښې مقدس صاحب
رانزدې شو - ویئل ئې هلکه ستا د واده خو
ایله یو کال اوشو او دکور ودانې عمر دې
هم ډیر کم ښکاري - وله د نظر دا
چشمې ...... ماوې سر! څه
تپوس ئې کوئ خو - سترګې ئې خوږ
وې کور کښې "ایلفي" پرته وه
دې ویئل جوړې دا د سترګو
تکې دي بس هغه ئې پکښې
اچولې وو - اوس..
.. مقدس صاحب

زما خبره

پریکړه
ویئل ئې - یره! تعلیم ښه
شې دې نو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابلیس

شیخ استاد د قصتو سړے وو ۔ یوه ورځ ئے ویل بیګا چې زه
له راتلم نو باران وو ۔ په ختو کښے راپریوتم ۔ کورته ستون شوم
جامے مې مانځې کړے ۔ را اودوتم ۔ خانه زاړه هډوکی دی ۔ بیا راپریوتم
نو داخل مې جامے ډیرے سخا شوے ۔ بیا مې ځان سم کړو ۔ او
په دریم ځل چې را اودوتم ۔ نو بیا راکیل شوم ۔ همسا
رانه هم چرته بے درکه شوه ۔ واپس شوم
جامے مې بدلے کړے او چې د کوره بهر شوم
نو یو ځوان زلمے ولاړ وو ۔ ویل ئے بابا
راپښا شه ۔ زه درپښا شوم او د جمات
په پیزار ځائے کښے ئے کوز کړم ۔ ما
ورته اووے ۔ زلمیه ځان راښه
اوښایه ۔ هغه ویل ۔ بابا زه
ابلیس یم ۔ ما وے چې ته
ابلیس ئے نو بیا دِ زه ته
ته ځنګه راوړم

هغه وے ! یو ځل چې ته راپریوتے نو خدائے پاک ته او بخښلے په دویم ځل ئے ستا اولاد او بخښلو په دریم ځل ستا د خاندان بخښنه اوکړے شوه ۔ ما وے هسے نه چې په څلورم ځل راپریوځے او د ا توول کلے اوبخښي ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حوالدار فاتح رحمٰن

نیمه شپه ده - عثمان سپاهی په توده برستن کښې پټ ځځ
پروت حوالدار فاتح رحمٰن ته د سلوټ نه پس اووے
خان پاڅئ - داغوا کیس دے - پرین ده زوروره !
کمره کښې ئے بند کړه - سحر له به کټے شي - او
بیا سحر وختي حوالدار فاتح رحمٰن د خپل ګونګی
زوئے په غیږ کښې د یو ماشوم لاش اوبیډ
شوک چې هم د دغه ګونګی ورور وو
په نوے واده شوے خور بیے
ئے بیګاه ژړل - ګونګی بیے
وړلو چې د مرګ کوے ته
لاړ - پته نشته چې د
اموخته خور ذیل مړ
کړو - که د پلار
د یخنئ
ظلم -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استاد جي

بوربیالے په ژړا کورته راننوځي . مور ئې
په غیږ کښې نیسي او پښتوس ترې کوي . چه
څه اووهلې - هغه جواب ورکوي چه استاد جي
— یه ! د استاد لاس مات شه چه
زما بوربیالے ئې اووهو . . . .
نه نه ادې ، داسې مه
وایه ، که زما د استاد
لاس مات شو . نو
بیا به ما ته
تختې څوک
کښه
کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپک ملنګ

زه ولاړ ووم اوګېلګارانو کوټه سوروله
توپک ملنګ راغی . وې دې خلقو څه
ځان ځانې جوړه کړې ده - خو په دې
غرونو دې لړګي کېږدي . یوه
لوېه کوټه د جوړه کړي او په
هېر د اوسېږي - کنه -
ما وې ملنګه دومره
اوږدې ده او بده دا لړګي
به له کومې راپیدا
کړې . مغروې
ته دا سې خلق
پیدا کړه نو
لرګي زما
ذمه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توخے

مازیگر مونږ اوشو او مونږ دجمات سنه
راوتو ۔ چه په کوڅه کښے ډېرے شوے. خلق
منډے کړے ۔ او مونږ چه دمضبوط آکا
ورځ ته اورسیدو ۔ نو درنګین اخری
سنګښ وے ۔ دشمال په پوښتنه
مضبوط آکا اووئیل ۔ چه دے
ولے زما په ورځ کښے او توخید
هغه اووے بنه تا زما
تربور ایله په توخئ مې
کړو ۔ مضبوط آکا
جواب ورکړو ۔
وګخانه
توخے توخے
بویه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرامات

دولے شهید خواته د پلالے د تیوپونو سره کنړه جوړه دهٔ زهٔ
وراغلم . عبد ولی ، رحمانی ګل ته او وے، خلق لیونی دی خر؟
چه دلته خپلے کیاکانے ، تمانچے او پلاله امانتی پردی .
بیګاه د غے اسپے چه خنګه کیاه له خله ووری
ده نو زیږه نکیږ او وختے ده . دوے خبرے
اورید و سره په ما هم غونے زیګ زیګ
شو او غوږونه م سپیره کړه . وے
اکرام لاټن مین په خندا شو . ما وے
وے ته کرامات نهٔ منے څـهٔ
هغه وے کرامات منم خو دا
اسپه کراماتو نه بلکه د
بجلۍ د غے شاټ شوے
ستنے وژلی ده . او
ماچه او کتل نو
نو اسپه زشتیا
د بجلۍ ستنے
ته پروت
شوے
ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نامه

زهٔ د کالهٔ په ورځ ورننوتم چه غانمتول ملغلرے ته
اووے . شيطان شيطان ! کوځ . هغے وے چپ شه شيطان
خو زما ابو دے ، هغه څنګه ؟ د غانمتول په تپوس ملغلرے
اووے . بيګاه ما ته ابو ويل . ويښته ئ پټ کړه
بانګ واځ . کني شيطان به د پٍه سر
کښے متيازے اوکړی ، ما وے ابو شيطان
کوم دے ؟ هغوځ ويل ته ستړے ئے
کړه اوليږ ساعت پس چه ما سترګے
اوغړولے نو ويښته م لواندٔ وو
په کمره کښے د ابو نه علاوه
هيڅوک نهٔ وو . ځکه نو
شيطان زما ابو دے . ما
چه د خپلے ډيرما شومے
لور ملغلرے خبرے
داوريدے او بيا م په خپلو
اعمالو سوچ اوکړو نو
يقيناً ما سره هم دغه
" نامه بنهٔ لګی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایمل خان کانسی

ما چه ستا د سپېڅلو روایاتو په خاطر د خپل پلار
بدل واخستو - نو تا زهٔ د مرګ په سودا کړو
خرڅ کړم - بنه دِ اوکړه ، او ډېر بنه دِ
اوکړه - خو افسوس چه ضعوڼ ستا
متعلق دا نهٔ وے ویُلے چه
د دے خاورے خلق خو به
څو ډالره خپله مور
هم وڅرنی - نو
زهٔ خو هسے مړم
وے دومره
دردېدلے
به نهٔ
ووم
مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسلمان

دکابل نه په واپسئ کښې یو دکان ته دچاینو اخستلو په غرض
وراغلم ـ دکاندار نه مې پوښتنه اوکړه چه څه ګړه مخه خو دِ
پکښې نهٔ ده کړې ـ هغهٔ راته ښکته پورته اوکتل او
بیائے په فخریه انداز کښې اووئیل ـ ولے زهٔ
درته "مسلمان" ښکارم څه ؟ زهٔ هندو
یم ـ هندو !

زما غوږونه سرهٔ شو ـ د پښتو
لاندے مې زمکه اوتښتیده.
او نهٔ یم پوهه چه
د دکان نه کله
او څنګه راوتے
یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# MASTER KEY

شکر بخیلے " Master Key " د ډیرو کورونو
جندرے بیرته کړے وے او بلا خونے ئے لوټ
کړے وے خو دا څلورم کال دے چه دجېل کالهٔ
پورے ورته ناست دے ، ډیره لویه
خزانه ترے تالا شوے دهٔ . ولے
نهٔ خو شکر دغه جندره
ماتولے شي او نهٔ
ئے د هغـه
Master key
دبیرته کولو
توان
لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کفاره

---

چند نړ د ګور ګورے د قبر د سر خزه بشکل کړه. چل
رسید ونګي لاسونه ئے اوچت کړل - سلګو اونیوؤ
او په ژړغونې آوازئے اوویل - سه
په سپینه خله روژه کړه ماته
دکفارے روژے به دوارۀ اونیسونه
ګورګورے ! ما خو د ځان دپاره
توبه هم اوویسته - اودکفارے
روژے م هم اونیوے. ولے
نۀ پوهیږم چه ستا
دپاره داکفاره
څنګه ......
څنګه ... او
څنګه ادا
کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټهان آکا

زمرک چه پټهان آکا کورا قبرستان ته په دُعا اولیډ. نو
ورته ئے اووے" اکا داخه کړے؟ ته خو عیسایانو
ته دُعا کوے. اکا ورته په غصّه کښے اووے.
نو بیا هغه ډاکټرانو ته دعا اوکړم څه؟ چه
د پلار د نا کامه پرېشن د پاره ئے په ټا د بنځے
کالی کانړه کړه ...... زهٔ خو به
تل عمر دوئ ته دعا کووم. ځکه
چه زما د سترګو اپریشن
ئے بالکل هسے او
بے پیسو کړے
دے .....
اؤ .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان

ما د شیشې نه اپله هغه لیدلو - چې یو ګې چې مخې پېغلې جینۍ

ورته ښکل پروت ګوزګوړ - هغه ئې په دواړو اوږو لاس کېښودل.

بیا ئې یو لاس د اوږې نه د هغې سینې نازکې لیچې ته راوړسوو

لږه شیبه پس ئې دواړه لاس د هغې د راوتې سینې نه

تاوکړه - د غه شان په قلار قلار لاندې راغې.

او لاس ئې ورله بلې ګېته راوړسوو - په یو

لاس ئې د پېغلې بڼې اونیوه - او په بل لاس

ئې د هغې د پښې نه لاندې پاڼزیب نه

شرنګ اوویست - "بس اوشو".....

اخترې پېغله رخصت کړه - ولې

زه په سوچ کښې پرېوتم - چې

ترا وسه پورې په څومره

پېغلې هم په دې بښار کښې د فیشن بلا د فساد ونو

ښکار کړې وې - او څومره "اخترو"

به د څومره پېغلو نه هم دغسې

لاس تاوکړې وي - کاش

انسان

خو د دې نه په غار کښې

لغړ بښه وو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنۍ خصلتونه

دسوالي تهبر چې غریبۍ د اوږدې ناروغۍ نه پس مړه کړه - او
په سود راخستې شوې روپۍ په اسقاط کښې تقسیم شوې. خو
ماشوم زوئې ته ئې په ضد بړه کښې بل یو ماشوم اووې...
بچانچه تاسو خو ماله د اسقاط پیسې رانکړې - خو زما
مور به مړی کنه؟ ته به زما نه پیسې اووېنځې
...؟ ماوریته وې چپ شه. خدائې دي...
..."بازدا" زما خبره پرې کړه - ویئل ئې
داخو د ضعفه سړي زوئې دې. چې پلار
ئې د لوږې نه مړشو او خپله د خلقو
په راوړو ډوډو موړ شو نو
مور ته ئې اووئیل - "ادې
ته به کله مرې چې
خلق زموږ کره نوي
ډوډۍ راوړي..." دې کښې دې غریب
ته څه ګناه ده - داخو کورنۍ
خصلتونه دي - ځان د
سړۍ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکندر

هسې نو هغه د ښار د لوئې هسپتال لوئې ډاکټر وو.
او د ډېرو لوئې هم یو لوئې پښه ترلې وو. وې
نور غوږمنګې وو. ګنې په دومره ډیره تبه
کښې به ئې سکندر ته وې انجکشن کولو
او هم دغه انجکشن په ډیرو سوالونو
دعاګانو او منتونو پیدا شوې ایکی یو
نیازبین سکندر د بابا د غیږ ے او شکوړ
زۀ نۀ پوهېږم چې د ښار په دے
هسپتالونو کښې به د ورځے څو سوۀ
ماشومان نکه د سکندر پښان
د دے قصابانو لاپرواهئ
ښکار
کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میلمه

سرپه ږله وله – ډزکوه ، کنې چیچي دی –
اوفو بنځې ! کورته راغلے میلمه په خپل غولي
کښېنې اخر خنګه مړ کړم – شراب درے
ملک مارمې نه کړو - خولې ساعت
پس مار ، شـراب درےملک
مړ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ممتاز

ممتاز بنهٔ موړ شتمند او دخاورې خاوند وو - ولې چوارئ
د هرڅه نه اوزګار کړې وو . دتیرو شلو کالو نه په
بازار کښې ګرځي او دیو عجیبه سوداسره سم سوال
کوي .. د دکاندارانو نه پیسې اخلي او په
ماشومانو ئې ویشي . یوه ورځ ترې ماتپوس
اوکړو چه دا ځان له څهٔ زهٔ چاودون
کړلې دې . د دکاندارانو نه پیسې
اخلې او په ماشومانو ئې ویشې.
ممتاز دخندا نه شین شو.
ویل ئې ــ دنیا د ناپوهو
ده . دلویو ناپوهو نه
ئې اخلم او ورو ناپوهو
له ئې ورکوم . زهٔ ممتاز ته ګوته په خله
ولاړ پاتې شوم او هغه
په ورانډې
روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیکوال پیژندګلو

نوم ۔ بادشاه روم

د پلار نوم ۔

حاجي عبدالرحيم

ادبي نوم

علي خيل دریاب

دزوکړې ځائے او

نیټه :۔

امان دره ملاکنډ ایجنسي

۲۱ مارچ سنه ۱۹۷۰ ء

تعلیم :۔ بي ۔ ایس سي

بي ایډ ، ایم ۔ اے پښتو ګولډ میډلسټ ۔ ایم ۔ فل ریسرچ فلو ۔ پښتو څانګه پېښور پوهنتون کار :۔ ټیکل ، لوستل او لولول

درک :۔ کلے او ډاکخانه اماندره ملاکنډ ایجنسي فون ۲۹۷۰۱ ۔ ۵۹۳۲۳

## دیکوال اثار :۔

۱۔ د فرهنګیانې خوشحال د دستارنامے فرهنګ

۲۔ غور ځا ځکي (مقالے) نثر

۳۔ جومیکونه (") "

۴۔ سپلمئ کښے کېښونه (محاورے) نثر

۵۔ پښتانهٔ او توهمات "

۶۔ د رحمان بابا اجتهاد "

۷۔ سباسیل په دامان دے (افسانے) "

۸۔ وزدانه (طنز و مزاح) "

۹۔ غورکے د تیغونه (تبصرے او مضمونونه) "

۱۰۔ شګے او زګونه (ترجمه) نثر

۱۱۔ شفق رنګه لارے (") "

۱۲۔ سینے ځلے او ګل بنیرے "

۱۳۔ ګورے دنے "

۱۴۔ عطرژن (نظمونه) شاعري

۱۵۔ غزل بنړ (غزلے) "

۱۶۔ غانتول " "

۱۷۔ همیشه ګلونه (تالیف) "

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**